هر څومره که مې اوښکې د ارمان په څلی توي کړې
د ټول عمر اودۀ جانان ګويانه راته نۀ شو

# د ارمان په څلی



غلامِ حق ساٸر



ښاغلے غلامِ حق ساڅرؔ په پښتو کښې شپاړسم پاس دے او د شعر و ادب د مېدان یو تکړه ملګرے دے. ددهٔ په شاعرئ کښې د مینې او حسن د جذبو او نغمو سره سره د پښتون ژوند ژوره هنداره هم ځلیږي.

د انسانی دنیا د اړی ګړی نه خبردار قلمکار ساڅرؔ چې په هره موضوع لیک کړے دے نو تر ډېر حده د خپل ما فی الضمیر په بیانولو کښې بریالے ښکاری. په خپلو خلقو او خپله خاوره ډېر بې کچه مئین ښکاری. د تېرو ناوړه حالاتو تصویر کشی ئې د اوښکو په سیاهی کړی ده، او دغه د یو رښتونی تخلیق کار لویه خوبی وی چې د خپل دور تاریخ کله په خپلو خولو، کله په اوښکو او کله په وینو لیکی.

هیله ده چې " د ارمان په ځلی " به د ښاغلی ساڅرؔ په پښتو ادبی دنیا کښې د پېژندګلو غته بېلګه جوړه شی.

منته

اباسین یوسفزے

چئیرمین پښتو څانګه

اسلامیه کالج پېښور

نېټه : ۱۱ جون ۲۰۱۴ء

بیعه =/300

بسم الله الرحمن الرحیم

# د ارمان په ځلی

## غلام حق سائر

جان کتاب کور کبل سوات

نقیب احمد جان اینڈبرادرز حاجی اقبال پلازه کبل سوات فون :6961 951 345 92+

e-mail: naqibahmed@hotmail.com , naqibahmadjan@yahoo.com

# ټول حقـــــونه خوندي دي

د کتاب نوم : د ارمان په څلی
شاعر : غلام حق سائر
زېږون ځائ : کبل سوات
رابطه : 03459458295

کمپوزنګ : سعید احمد انجم
پروپ / املا : اتل افغان سوات
ډیزاین / چاپ چارې : نقیب احمد جان

شمېر : پنځه سوه
چاپ نېټه : جولائی 2014
بیعه : 300 روپۍ

**د موندلو درکونه:**

کبل الیکټرک ستور کبل سوات
جان کتاب کور کبل سوات
معراج بک سېلر ، یوسف بک سېلر ، برهان بک سېلر کبل سوات
مالاکنډ بن سېلر مینګوره سوات

# تــــــــــړون

- د اروابښاد سلطنت خان تنها په نامه چې زما ماما وو . او د پښتو ژبې ډېر ښه شاعر وو .
- زما د خوږې ترور بی بی په نامه چې ما ئې په غېږه کښې خپل وړوکوالے تېر کړے.
- د خپل ماشوم زوی انس په نامه چې په ماشومتوب شهادت ئې زما دنیا نیمګړی کړی ده.
- د خپل ماشوم شهید خورئي شاه زېن په نامه چې لکه د انس راته ګران وو.

غلام حق سائر

# ســـــــــريـــــزه

د غلام حق سائر په کتاب

# د ارمان په څلی

هغه زما سره د علمونو او چمن زارونو د ښار لاهور نه د سوات په سېل راغلی وه. د سوات مناظر او مرغزارونه ئې داسې په زړۀ ټکی شوی وو چې بې اختياره ئې د خُلې نه راته اوختل چې (نواز خدا کی قسم واپس جانے کو جی نهين کرتا!)

دا څه داسې خبره نه وه چې هغې ګنې په ما احسان کوؤ. دا د هغې د زړۀ اواز وو. په دې چې هغه څۀ ماشومه خو نه وه. د خپل تعليمی ميدان اعلی ترينه ډګری ورسره وه. هغه زما استاذه وه. زۀ ئې د خپل علمی ميدان په روګودر تربيه کولم. ځکه خو ئې په دغه وېنا کښې شعری معنويت وو. هغې د سوات ګلورينی سيمی او شاعرانه ماحول ته هم په دغه نظر کتلی وو. ځکه خو ئې ورته داسې بې ساخته او جذباتی تبريک وړاندې کړ وو.

دا هاغه زمانه وه چې دلته په سوات کښې د سېف الملوک صديقی د شاعرۍ انګازې خوريدې. د هغه خپل انداغ د هغه په سر وو او د درد مند زړۀ خپله وينا ئې د سندر غاړی ګلنار په نغمو کښې تحليل کړی وه. دا رنګين نوائی هر پله په پښتو نخوا خورېده.

صديقي د کبل اوسيدونکے وو. د هغه دا غزل چې نن هم څوک اوري چې:

زۀ انتظار کومه ستا د سترګو
ولې پناه شوې تۀ زما د سترګو

نو معاً ئې هاغه تېره هېره زمانه رامخې ته شي چې دلته په سوات کښې امن و امان وو، قلاره قلارې وه. د شعر و شاعرۍ محفلونه به پکښې جوړولے شول. مينه محبت په ويشلې کېدل او د فيضان په فيض به هر سخنور فيض ياب کطدو. دا د هاغه چا دوران وو چې شاعر زيب سرور ته جهان ماب ويلي وو. د تعمير او ودانۍ زمانه وه. د سوکالۍ او خوشحالۍ دور وو. ځکه نو د ذوق سليم هر خاوند چې به دېخوا پېښنه اوکړه نو خپل تبريک به ئې په خپل انداز کښې دې زمکې ته سوغات کړو. او بيا کله چې په يو وخت کښې د پښتو نخوا د سيمې د هاغه ملک الشعرا په وخت کښې د خيال دنيا د ايلم څوکې ته وراوخيژؤ نو چغه ئې کړه.

چې د سوات مرغ زرين ئې په نظر شو
د ختيک تنزرې چغه کړه فقير يم

دا تشه شاعرانه تعلي نه وه. سوات د خوئے په رنګ ښائستونو او مهمان نوازه مشرانو او درانه اولس بې نظيره خطه وه. دا د حسن او رعنائۍ او تمدني ښائستونو نه جوړ ارضي جنت وو. هم ئې آب و هوا

سازګاره وه او هم ئې ماحول شاعرانه وو ځکه خو د هر چا مينه وربانده راتله. دلته په دې سحر انګېز ماحول کښې کبل هم وو. دا تش د نوم کبل نه وو. د دې چمن په ګلکده کښې د شاعرانه نغمو د بلبلانو سندريزې انګازې خورېدې.دا د نغمه زار کبل يو ژوندے روايت وو. دغه روايت لاهاغسې مخ په ترقۍ دے.

سخن دانی او سخنوری يو هنر دې. دا وهبی عطا ده. دا د تهذيب او تعمير د لارې حُدی خوانی ده. دا چې روانه وی نو د تمدن ارتقائی عمل هم ورسره جاری وی. ځکه خو دا هنر د الله هاغه رحمت دے کوم چې هغه خپل يو نيم بنده ته وديعت کړے دے. هاغه ژوک چې د دې لارې پيغام رسان لار وے شی هغه د خپل خالق او مالک د رحمتونو ترجمان شی. د ژبې هر ګوښ ئې د زړۀ اواز شی. هره تشبيهه هره استعاره هره کنايه او هره تلميح ئې پيغام شی، دا د ژوند پېغام د ارمانونو او آرزوګانو ترجمان شی. دا د انسان بدرهو او کمزوريانو ته لار نيسی. دا د هغه په خپل انداز کښې د خپل ځان سره د خود کلامۍ ذريعه شی چې خپل ځان وربانده ي مشغول ساتی او خپل زړه له وربانده ي تسله او دلاسې ورکوی. کله براه راست او کله بالواسطه. هغه په خپل ځانګړی انداز د خپلو محبتونو سره همکلام وی. د خپل رقيب او غماز سره په جنګ وی. کله خو دا د محبوب ستائينې او تعريف وی او کله د بېلتون او فراق ګيلې مانې وی. دا ورله هم خوند

ورکوي هم تسلي او هم اطمينان . د دې په قدرو قيمت سخن شناس پوهېږي په دې چې د زرو قدر د زرګر سره وي.

سائر هم د سوات د سيمې د دغه تاريخي او د شعر و ادب مرکز کبل کلي اوسيدونکے دے . شاعر دے ، سخن ساز دے ، د دغه لارې لار وې دے. هغه د خپلو نغمو حُدي خوان دے . خپلې دغه نغمې ئې په خپله دې شعري مجموعه کښې راټولې کړې دي او د ارمانونو ځلے ئې ورنه ساز کړے دے. هغه په دغه ځلي د پاسه ولاړ دے او لکه چې دا وائي:

ع اوګوره ته ماته ستا نظر کښې ښکاره ښکارم

زۀ د سائر په کلام کښې د مداخلت کولو حق نه لرم او نه په دې څه تبصره کول خپل منصب ګڼم . دا د غلام حق سائر کلام دے په هر چا خپل تخليق ګران وي. د شاعر کلام د هغه د اولاد په مثال وي. اولاد که هر څنګه وي د خپل ځان نه ليک وي. ځکه خو وائي چې کارغه وائي چې زما پستکيه زويه او شيشرګې وائي چې زما پستکيه زويه!! د شعر تول پارسنګ د نقاد کاروي. او سائر چې د خپل زړه د ارمانونو ځلے ورته مخې ته ايښے دے نو دا اوس د هغوئ خوښه ده چې په کوم کانې ئې تلل غواړي. وما توفيقي الابالله.

پروفېسر محمد نواز طائر
ټيکاؤ منزل ، تانه

# ســـــــيلانے

وئېلے شي چې شاعر، اديب، ليکوال دَ قوم سترګې وي۔ پۀ دې کښې هيڅ شک نشته۔ خو کۀ مونږ غور اوکړو نو مونږ ته به معلومه شي چې سترګې پۀ درې قسمه دي۔ **(1)** دَ احساس سترګې، **(2)** دَ سر سترګې، **(3)** دَ زړۀ سترګې چې بصيرت ورته هم وئېلے شي۔

اول الذکر دوه قسمه سترګې دَ انسانانو هم وي او دَ ځناورو هم۔ دريم قسم سترګې دَ انسانانو وي او دَ ځناورو نۀ وي۔ يعنې انسان دَ درې قسمه سترګو حامل دے۔ څنګه چې دَ سر دَ سترګو نظر دَ چا زيات وي دَ چا ښۀ زيات وي دَ چا کم وي دَ چا ښۀ کم وي او دَ چا بالکل نۀ وي۔ دغه حال دَ هر قسم سترګو دے۔ دَ اهميت پۀ لحاظ دَ سترګو درې واړه قسمونه پۀ خپل خپل ځائے دَ قدر وړ دي۔

څنګه چې پۀ انسانانو کښې دَ سر دَ سترګو دَ نظر دَ تېز والي او کم والي پۀ حواله فرق موجود دے دغه شان دَ احساس او بصيرت دَ سترګو دَ نظر پۀ حواله هم پۀ انسانانو کښې فرق موجود دے۔ اکثر خلق داسې دي چې څۀ اووينې يا څۀ محسوس کړي دَ هغې دَ ردِعمل يا عکس العمل اظهار نۀ شي کولے يا کۀ کولے شي خو پۀ صحيح او

مؤثر ډول ئې نۀ شي کولے ـ يعنې دَ دوي سره هغه خلۀ نۀ وي چې دَ خپلو مشاهداتو، مرئياتو او محسوساتو پۀ حقله صحيح، واضح او جامع بيانيه اظهار اوکړے شي ـ

بعضې ډېر کم خلق دَ دوي برعکس دغه هر څۀ کولے شي ـ او هم دغه خلقو ته شاعران، اديبان او ليکوال وئېلے شي ـ پۀ دې حواله زۀ دا وايم چې شاعر، اديب، ليکوال يوائې دَ قوم سترګې نه بلکې دَ قوم خلۀ هم وي ـ

ليکوال دَ احساس او نظر پۀ حواله ډېر زيرک وي ـ دَ ليکوالو پۀ صف کښې دَ سوات دَ سيمې دَ کبل تحصيل اوسېدونکے ښاغلے غلام حق ساﺋرؔ صېب هم دے ـ دَ ساﺋرؔ صېب مثال دَ سوچه سرو زرو دے ـ سوچه سرۀ زر پۀ اور کښې کۀ لۀ ډېره تاوه ويلې هم شي خو خپل رنګ نۀ بدلوي ـ دغه شان ساﺋرؔ صېب دَ هر قسم غمونو پۀ سرو اورونو کښې کۀ ويلې شوے هم دے خو نۀ ايره شوے دے او نۀ ئې خپل رنګ بدل کړے دے ـ دَ هغې وجه دا ده چې ساﺋرؔ صېب دَ خپل بصيرت پۀ برکت دَ فطرت پۀ حقيقتونو پوهه دے ـ هم دغه وجه ده چې دَ سرو لمبو پۀ غېږه کښې هم دَ خپلې مقدسې مينې سندرې وائي ـ

دَ پرهر زړګي ګنډون به مې ښۀ اوشي
ستا دَ زلفو تار مې کېښود پۀ رينه کښې

کۀ بې رحمه او بې احساسه غليم پۀ ساٸرؔ صيب دَ خپل ظلم، جبر او دَ بې رحمۍ دَ اور ګلۍ ورَولې ده خو بيا هم هغۀ دَ کربلا دغې واقعې ته دَ خپل شعر يوه داسې جامه اغوستلې ده کومه چې نوحه نۀ معلومېږي. دَ هغې وجه دا ده چې دَ لوړې حوصلې او ايماني قوّت پۀ وجه دَ ساٸرؔ صيب خلۀ دَ ژړا دَ چل نه نا اشنا ده. هغۀ خپله ژړا دَ زړۀ پۀ ماتم خانه کښې پټه پۀ پرده کښې ساتي. او چې ډېر مجبوره شي نو صرف دا اووائي چې.

تا چې بد راسره اوکړل بې بدله
اوس پۀ خپله لاره ځۀ، زۀ به پۀ خپله

يا دا چې

خدايه چې چا رانه پۀ نيمه لار جدا کړو جانان
ساٸرؔ آخر زۀ دَ کوم چم کوڅې ته منډه کړمه

يا دا چې

ستا دَ ياد دَ هر بتکي او دېوال لور ته
کتے نۀ شم مدام سترګې پۀ ژړا ورم

ساثرؔ صیب خپل شاعرانه فن خپل شراب ګنړي او هم پۀ دې باندې خپل غم غلطوي۔ لکه چې وائي

تا چې قصداً زما دَ ژوند خوشحالۍ واخستلې
ما مجبوراً پۀ مېخانه کښې پيالۍ واخستلې

دَ ساثرؔ صیب دَ فن پۀ حقله زما رائے حتمي نۀ شي کېدے۔ دا فېصله به لوستونکي کوي چې دَ ساثرؔ صیب فني استعداد او معيار دَ بلندۍ دَ کومو حدونو او مرحلو نه دَ تېرېدو تصوير وړاندې کوي۔ زۀ خپلې خبرې دَ ساثرؔ صیب پۀ دې دوه وو شعرونو ختموم۔

ستا دَ ظلم پلک ته ما ماشوم زړګے خپل
تا سُورے کړے ما پاس ايښے پۀ سندان دے

زۀ ساثرؔ دَ لات منات طمع دار نۀ يم
ما سپارلے هر مشکل پۀ پاک سبحان دے

بابائے قطعه عبدالرحيم روغانے
سېدو شريف سوات۔
**18 مۍ 2014ء**

## غلامِ حق ساٸر ..... په پښتو مئين شاعر

شاعرى که هر څو د يو ليکوال د داخل او خارج هينداره وى ولې دغه امتزاج ئې د عصر رنګونه هم محفوظ کوى .
غلامِ حق ساٸر چې دا وخت تاسو ته د ارمان په ځلى د خپلو داخلى او خارجى جذباتو او احساساتو د لوستو موقع درکوى ، تاسو د دې دور د پېښو او واقعو رنګ زار هم پکښې ليدے شئ .

سائر صیب په عام ژوند کښې یو ساده باده انسان دے او
سوچه پښتون مزاج لری . په پښتو مئین دے د پښتنو سره ئې
مینه ده او د خپل قام په درد دردمن دے . د سوات د تېرو څو
کلونو حالات ئې هم په کلام کښې وړانګې وړانګې بربښی چې
دا ئې د خپل اولس او خاورې سره د بې کچه مینې اظهار دے.
مېلمه دوست او مینه ناک دے ، د لفظونو د جادو ګرۍ سره
سره د رنګونو د جادوګرۍ په لاره هم تلے دے ، یعنې خطاط او
ارټسټ هم دے .

په شاعرۍ کښې ئې سوچه ژبه او کلی وال رنګ موجود
دے. روزمره ، محاوره او د خپلې سیمې لهجه ئې په کلام
کښې په خوند خوند راوړی ده .

د دې کتاب په لوستو د ښاغلی سائر نه په را روان وخت
کښې د نورې ښه شاعرۍ توقع کېدے شی .

په درناوی
شېر زمان سیماب
پښتو اکېډمی ، پېښور پوهنتون
نېټه: ۱۰ جولائی ۲۰۱۴ع

# په چمن کښې هر يو ګل جدا جدا وی

زۀ چې کله په شعر و شاعرۍ پوهه شومه نو ما خپل ګېرچاپېره وليدل چې ځنې ښاغلي زمونږ په کبل کلی کښې هم د پښتو د شعر په ګڼه سينګار کښې بوخت دي. لکه عبدالطيف شاهين ، مفتاح الدين خاکسار، محمد الياس الياس، علی اکبر اسير، سلطنت خان تنها ، عبد الجميل جميل او په تېره تېره د دې کتاب خالق غلام حق ساثر.....په دغه ورځو کښې به د کبل ادبي تړون د سيوري لاندې مياشتنۍ مشاعره کېده چې به پکښې د دې ښاغلو نه پُرته

پنځويشت د پرش شاعرانو چې د کبل کلي او خواؤشا اوسېدونکی ووګډون کړلو، د دې ټولنې د سيوري لاندې ځنې لوئې مشاعرې هم شوی دی چې ورته د پښتونخوا ستر شاعران لکه اجمل خټک، محمد نواز طائر، عبد الرحيم روغانے ، رحمت شاه سائل رابللے شوی دی. د سوات د کړکېچنو حالاتو په ترس کښې د ټولنې هلې ځلې کمې شوې. خو بيا هم که يو طرف ته ټولنې خپلې اګرچې کمې خوښه دستورې جاري ساتلي دی. لکه د اروابناد سلطنت خان تنها او اروابناد شېر محمد شېر په ياد کښې لويه مشاعره د کال ۲۰۱۰ع د نهه کتابونو د شريکې مخکتنې دستوره او بيا د کال ۲۰۱۴ د ۴ مئی لويه مشاعره چې د محمد نواز طائر د اباسين يوسفزی، عزيز مانېروال ، اقبال شاکر، حنيف قيس ، نورالامين يوسفزی، شېرزمان سيماب سره سره د خيبر پښتونخوا ګڼ شمېر شاعرانو پکښې ګډون وکړو. د دې سره سره شاعرانو د پښتو شعر د ناوې د ځښې سترګې کولو هغه کار په انفرادی توګه هم جاری ساتلے دے چې په نتيجه کښې ئې نن دا کتاب ستاسو په لاس کښې دے.

خبره اوږدېږی غرض مې دا خبره په ګوته کول وو چې غلام حق سائرؔ صيب د کبل پښتو ادبی تړون يو سرګرمه غړے دے او د کلونو راسې د شعر د چمن اوبه خور د زړۀ په وينو کوی. سائر صيب د پښتنو اقدار و او پښتنې جوڅې پيا وړی نمونه ده چې د پت او پښتو همه رنګونه په ځان کښې لري. د شخصيت سره سره ئې کلام هم درانۀ

رنګونه لري. او د خپل کلتور، روایاتو او تاریخ سره بې کچه مینه ترې جوتیږي. لکه وائی

پښتنه مینه مې دې خدائے دومره بې پته نه کړی
ستا په کوڅه دې ما هیڅ کله ملامته نه کړی

حېران په دې یم په څه وجه پښتانه ختموی
زما د قام مشر دې دغه راز ګمنام نه ساتی

ساېر صېب قام ته نصیحت هم کوي.

زۀ به ئې تاله د خپل سر په بیعه واخلم
د غیرت جنډه که کوم ځائے خرڅېدله

یو بل سره دا دپرګنو دشمنۍ ختمې کړئ
دا نصیحت واورئ یقینا چې پښتانه به شئ

د ساېر صېب شاعری بلها اړخونه او رنګونه لري خو کوم اړخ یا رنګ چې ورته ځانګړتیا وربخښی هغه د ساېر صېب په شاعرۍ کښې کلی وال ژوند او کلی وال چاپېرچل دے چې په لوستو ئې بنده ځان د کلی په ښائسته او پر کېفه چاپېریال کښې محسوسوي. د ساېر

صیب دغه شعرونه د پښتنو د کلی وال ژوند ترجمانی کوي او د پښتون کلتور او روایاتو ، د هغوئ د کلی وال ژوند د بقا سبب ګرځی ، غواړم چې د دغه رنګ یو شمېر شعرونه ئې ستاسو مخې ته کېږدم چې پکښې د کلي د نانداف، لوهار، ترکاڼ، ژرندې، درمن، لور پړی، اشر غوبل، کیجاوې، چوپال، سیزنۍ، زانګوټۍ، تبر، جغنه ، کیکرو ، توتانو، بټۍ او د امبور یادونه ده کوم چې ډېر زر د پښتون بچی د دنیا نه کډه کونکي دی. سائر صیب په خپل کلام کښې د پښتون کلتور د دغه ستنو او اجزاؤ د خوندي کولو هڅه څه په دا رنګې کوي.

د وختونو تبرګے پکښې جغنه وهی لګیا دے
که هر څو دې سروې قده د چنار لوړه ځوانی ده

هر یو ګذار ئې د پلک دروند دے خو زۀ صبر کوم
زۀ په سلګو زړګی سندان له تسلی ورکوم

دغه کوڅو کښې مې وختونه د ځوانۍ ویستلی
په ماشومتوب مې په توتانو کښې مرغۍ ویشتلی

هغه ډاګونه چې به مونږ پکښې مستۍ کولې
چې د سپوږمۍ په رڼا مونږ به شا ټوپۍ کولې

ما لکه د پالي په شان سور کړی په سکروټو کښې
کله د لوهار بټۍ کښې خلاص به د امبوره شم

ستا د وصال که د زړۀ کور کښې ذخیره جوړه کړم
د غم سپګۍ د امیدونو په خمبه کښې راځي

که ئې د مینې دروازې ما هر ترکاڼ له یوسم
خو د خدائے کار دے مدام تاؤئې په تمبه کښې راځي

د خیال نانداف له که د خپلې چمبې مزی ورکړم
خو ما **سائر** ته شوکېدلی په پومبه کښې راځي

زۀ د خپل ارمان دانې راغونډې په باڼو کړمه
ته پرې د غصې نه راچالو د ستم ژرنده کړې

Pukhto.Net

لکه الوزی مالوچ چې د ناناف د ډېلونه
داسې خر لوګي ئې خېژي د زړګي د اسوېلو نه

بیا مې د کور د چوپالګی په نړېدلی دړه
نن ستا د یاد شمع سیلۍ طوفان ته پرېښودله
سوره د خیال په کیجاوه د ارمانونو ډولۍ
د مهار غوټه مې هم ستا ساربان ته پرېښودله

زۀ ستا د یاد سیزنۍ کښې ترم خپل وړوکے ارمان
چرته د خیال په زانګوټۍ کښې راته لته نه کړي

غم دي لټون کوی زما په زړۀ د نوی زخم
لکه ورغومے چې په شپول کښې تنکۍ پانړه ګوری
یا لکه ورشې د مرغو سېل د ارمان په درمن
د ډېرې لوږې خېټوکۍ خپلې له وانړه ګوری

دغه د نمونې څو شعرونه چې ما وړاندې کړل د ساثر صیب ټول کتاب هم د دغه رنګه خوندورو شعرونو نه ډک دے چې بیا بیا لوستونکے د یو خوندور احساس سره مخ کوي.

د ساثر صیب په ژوند کښې د هغه د ماشوم زوی انس د سوات په کړکیچنو حالاتو کښې شهادت لوئے خلا جوړ کړے دے چې زخم ئې لاتر اوسه تازه دے او بیا بیائې آهونه د زړۀ نه د مرثیو په شکل کښې راوځي.

ته شهید شوې په خندا جنت ته لاړې
خو د غم پېټے دې زۀ په زړۀ تنها وړم
ستا د یاد د هر بتکی او دیوال لورته
کتے نه شم مدام سترګې په ژړا وړم

د ساثر صیب کلام نور هم ډېر خوندور رنګونه لري که زۀ په هر یو رنګ بحث کوم نو خبره ډېره اوږدیږي دا مې خوښه ده چې نور ئې لوستونکو ته پرېږدم چې د خپلې خپلې خوښې په رنګونو کښې ئې ورګډ شي.

په ډېره مینه
نقیب احمد جان
۲۰جون ۲۰۱۴ع

# د چینار غونډې سړے......کار او زیار

غلام نوکر ته وئیلے شی یا خدمت ګار ته او حق رینښتیا او سم ته وائی او دغه شان اوس چې کوم سړے د حق غلام وی یعنی غلام حق او بیا د شعر و ادب د دنیا سیلګر هم وی یعنی ځان له ساَئرؔ تخلص ئې غوره کړے وی د هغه د کړه وړه شخصیت اندازه د نوم نه هم تر ډېر حده کېدے شی. حق د باطل ضد دے دا هغه پاک سپېڅلے او مبارک تورے دے چې د حلاج منصور غونډې لوئے صوفی د دې ټکی په وئیلو او نعره کولو د مخالفې ډلې خلقو په دار کړے دے.

غلام حق ساَئرؔ د سوات نیکپی خیل په چندا خوره کبل نومې کلی (دا هغه یاد او بختور کلے دے چې لوئے څېړن کار او شاعر ادیب سعدالله جان برق ئې د سواستو په تسلسل کښې د کپل وستو یعنی د ګوتم بدھ د زیږېدنې ځائے ګڼی. دا هغه کلے دے چې د ریاست سوات

باني میان ګل عبدالودود باچاصیب ته پکښې د مشرۍ دستار تړلے شوے وو. دا هغه نیک مرغه کلے دے چرته چې لوئے شاعران او ادیبان زیږیدلي او پاتې شوي دي لکه سیف الملوک صدیقي مشیر صیب، عبدالطیف شاهینؔ دادا، شیر محمد شیرؔصیب، استاد نقیب احمد جانؔ صیب او بیا دوه لوئے دیني عالمان مولوي ګلبر خان اوحسین سواتي چې ډیر ښه مترجم او کاتب هم وو. او ډاکټر زین العابدین صیب خدائے پاک دې ئې وبخښي) د محترم محمد عبدالسمیع کره په لسم اپریل ۱۹۷۳ع کښې سترګې غړولي دي. نوموړے لیکلے لوستلے سړے دے. ښکلي غټه کټه دنګه لوړه چنار ځواني لري، هنر مند او کاریګر دے.

د ساڼرؔ صیب په شعري تولګه فن او کار باندې زما مشرانو پوهانو ډیرې علمي او تنقیدي لیکنې کړې دي. زۀ پخپله ځان د دې کار جوګه نه ګڼم خو د ساڼر صیب د بیا بیا وینا له مخه او په کتاب کښې د خپلې حاضرۍ لګولو په خاطر، د ساڼر د یارۍ د پت پاللو په خاطر دا خپل لنډ تاثرات وړاندې کوم.

ساڼرؔ صیب د ډیر وخت راسې شعر لیکي ډیر مشق ئې کړے دے شعر ئې اوس خوږ هم دے او خوندور هم. د خپل زړه ارمانونه هم نظم کوي، او د قام او اولس بده ورځ او تباهي هم نظم کوي. غزل او نظم دواړه لیکي. ژبه ئې سوچه کلیواله او آسانه ده لکه دې لاندینو شعرونو کښې ئې ځومره خواږه ټکي په ښکلي ډول ځائے کړي دي.

دا ګور ګوره ده جانانه چې په واوروکې ښکاريږی
که دا تور خالګے ځليږی ستا په غونډه منډه زنه

ساثره خور د بوډۍ تال شو د شفقه پورې
که نه د پېغلو په وښکو د خندا ولونه لګی

د وصال پرچاؤدې راوړو د ستم ژرنده دې بند کړه
د زړۀ وينه د مزاوګے مې راوړی په جولو ده

که داسې په غور د ساثر ځنې کلامونو ته خيال اوشی نو يقينا چې د پښتو ادب لپاره ډېره ښائسته او خوږه ډالۍ ده. داسې ځائے په ځائے ئې د نوی تشبيهاتو او استعاراتو پکارولو هڅه هم کړی ده. او د خپل فن د ناوې سينګارولو په کار بوخت د ے. د خپلې مينې قيصې خنداګانې او ژړاګانې ئې هم ليکلی دی او د دې وطن د هرې لاړ او کوڅې د يو بې وسه او مظلوم زړۀ آه او فرياد ، درد او ژړا ئې هم اوريدلی ده او دردولے ئې د ے. په قامی او سياسی لوړو ژورو لرو بر ئې هم ځائے په ځائے خبرې کړی دی. او د ډېرو وياړونو او افتخاراتو تر څنګ ئې خپل اولس ته نېمګړتياوې هم په ګوته کړی دی چې دا

لاړسمه ده او دا نه ده. دا اورنګ دے او دا فیرنګ ،دا کاروان دے او دا کار وران ....... بیا هم ځني ځایونو کښې فنی او هنری غلطۍ ئې کړی دی څو ځایه ئې د عامو خلقو د وینا (بول چال) ژبه پکار کړی ده او د ادب او کتاب ژبه نه ده لکه د کړې او کښې، ختلے او ختےفرق ئې نه دے کړے خو بیا هم دغه لږې ډیرې غلطۍ خو به کیږی بیا دا د ساقر صیب ورمبے کتاب دے لاورسره ډیره زیاته شاعری په ناچاپه صورت کښې پرته ده. انشاءالله هلیه مند یو چې د دې کتاب نه وروستو به د سندریزې سلګۍ په نوم وار په وار په کتابی ډول ستاسو په وړاندې راځی او خوندونه به ترې اخلئ.

الله پاک دې محترم غلام حق ساقر صیب له لوئے ژوند او روغ صحت ورکړی چې د دې ژبې او پښتو ادب لپاره ګټه ورکارونه او خدمتونه وکړی. آمین

اتل افغان

علی کتابتون شاه ډیری سوات

۲۰ جون ۲۰۱۴ع

# زمـــا مــــلګرے

زۀ ځــان د دې خبــرې جوګــه نــه ګــڼم چــې زۀ دې پــه کتــابونو لیکـل اوکـړم خـو د ګـران ملګـری غـلام حـق ساټر د زړۀ د پـاره د خپـل طرفـه پـه څـه مـاتو ګـوډو الفـاظو کښـې بـه څـه اولـیکم. دا خبره منم چې هر چا ته خپل وطن کشمیرد ے او هر چا تـه خپـل ملګـری زړۀ تـه نـزدې وی خـو بیـا هـم نمـر پـه ګوتـه نـه پټیـږی یقینـاً چې زمـونږ پـه سوات کښـې ډیر ښـه ښـه شـاعران دی او ډیـر پـه زړه پـورې لیـک کـوی خـو انشـاء الله زۀ یقـین لـرم چـې زمـا د ګـران ملګـری غـلام حـق ساټر صـیب شـاعری بـه زمـا غونـدې پـه زړۀ کښـې چـا لـه ځـائے نـه کـوی خـو څـه نـه څـه ځـائے بـه د هـر چـا پـه زړۀ کښې ضرور کوی.

ولـې چـې د ساټر صـیب پـه شـاعرۍ کښـې د عـام اولـس د چاپېرچـل او کلـی وال رنګونـه لکـه د اسـمان د سـتوری ځلنـده دی. خـواږه او سـاده الفـاظو کښـې ئـې یـو رنګینـه ښـکلا او ځـلا ده چې په خوږ زړه لکه د خوږلن لګی.

د مثال په توګه يو څو شعرونه زۀ په ګوته کووم چې لوستونکی به ترې څه نه څه مزه واخلی.

هر چمن کښې زۀ سائر ګلونه د وفا ګورم
لاس کښې کشونې چې د باغوانه سره څمه

د سيند چپې شمارم سائر په بله طمع ناست يم
اشنا که پکښې راشی چرې ستا د څُلے کنګال

زما جونګړه کښې د پټ او د پښتو نخښې دی
څنګ مې جونګړه ستا په دنګه مانۍ غوره نۀ ده

Pukhto.Net
پښتو

يا لکه

رانجه رانجه سکاره ارمان مې يوسه
د خپل جبين خالګے پرې تور که کنه

زۀ خپله خبره نوره اوږدول نۀ غواړم باقی به ئې لوستونکی اوګوری چې د سائر صيب شاعری څه رنګونه لری.

په ډېره مينه
محمد الياس الياس ډاګے

Pukhto.Net پښتو

## منني يادوني

زما په زړۀ کښې د ډېرې مودې نه دا خبره چورلېده چې ما د خپلې ماتې ګوډې شاعرۍ کتاب ترتيب کړې خو څه د ژوند د

تودو منډو او څه نورو مجبورو له کبله مې کتاب ترتیب کولو ته ډډې نه لګیدې زما ډېره شاعري زما د ناراستۍ د وجې د کاغذونو په پرزو، ګتو، چیټو کښې ضائع شوې ده که څه به مې اولیکل نو په جیب کښې به راسره پراته وو د هفتې نیمې پورې ، خو اخر به اودرېدل زما ګران ماما اروانښاد سلطنت خان تنها به راته اکثر قهرېدو چې هلکه ته خو څه انپړ نه ئې ګوره دا لیکل مه ضائع کوه د ځان سره ئې په کاپۍ څه کښې لیکه او حوصله به ئې هم راکوله الله دې ئې ګور د نور نه ډک کړي.

خو کله چې په سوات کښې حالات خراب شو او زما ماشوم زوے انس په مارټر ګوله د لګیدو سره شهید شو او زۀ د هغه په شهادت د عمر دلګیر شوم نو دا خبره خو ټول د عقل خاوندان مني چې د شاعرۍ د بنیاد ګټه درد او غم دے. نو هم دغه درد زما په لیکلو کښې ښه تیزي راویستله او هم د دغه درد او غم څرېکې اواز ( د ارمان په څلي ) شو چې نن ستاسو په لاسو کښې دے.

انشاءالله د دې نه وروستو زما یو بل کتاب د سندریزې سلګۍ په نوم ناچاپه حالت کښې دے د هغې د چاپ کولو اراده لرم که ژوند راسره وفا اوکړه. خبره اوږدېږي زه اوس خپلې خبرې ته راځم زه د سنه ۱۹۸۸ نه د لیکلو شوق کؤم خو

دا خبره مې مخکښې عرض کړې ده چې زما ډېر ليکل زما نه ضائع شوي دي خو اوس چې مې څه نه څه راجمع کړل نو په هغې کښې زما د يو څو ملګرو محمد الياس الياس، علي اکبر اسير، اتل افغان څه د نورو ملګرو او ګران د تره زوئي نقيب احمد جان لاس او مرسته ، منندوه تره وه ګني دا بوج زما د پاره د اوچتولو نه وو. او په خاصه توګه د جان صيب چې ما ته به ئې وخت په وخت وئيل چې اخر ته کتاب د څه وجې نه نه کوې ما به ورته وئيل چې مړه زه خو هسې خپل وخت پاس کوم زما به څه شاعري وي خو اخر اخر د هغه په بار بار وينا مې کتاب چاپ کولو ته غاړه کېښودله. د کتاب په ليکلو کښې چې زما سره منندوه تره او ډاډګيرنه کړې ده زۀ د هغو ټولو مرستيالو د زړۀ د کومې شکريه ادا کؤم لکه ؛ محترم پروفېسر محمد نواز طائرصيب، محترم عبدالرحيم روغانے بابائے قطعه ، محترم اباسين يوسفزے صيب، شېرزمان سيماب صيب، نقيب احمد جان صيب، اتل افغان صيب، محمد الياس الياس، علي اکبر اسيرکه کوم ملګري رانه پاتې شوي وي بخښنه غواړم.

ډېره مننه
غلام حق سائر
کبل اليکټرک سټور

# دعـــــــــــا

تهٔ قبوله په خپل در کښې دا دعا کړې زما ربه
په دنیا ستا عبادت مې مشغولا کړې زما ربه

پـه لحـد کښـې ستا تیـارو نـه ډیـر ویریـږم
دغه ګور په خپـل کـرم ما تـه رڼا کړی زما ربه

ازلـی بـد بخـت ګنـاه بانـدې اختـه کـړم
د قدرت په لوئے طاقت پرې ګټه راکړې زما ربه

عزرائیـل چـې دې زمـا د روح واکـدار کـړو
اخـری سلګی مـې تـه پـه لاالـه کـړې زمـا ربـه

زهٔ ساٸر خـو ستا د رحـم اُمیـد وار یـم
شفاعت د خوږ نبی راته عطا کړې زما ربه

چې رحیم نامه دې اورم نو رحمان نامه دې ستایم
ستا په خوږ نبی بې شانه په لکونو سلام وایم

خدایه ته په هر سنګر کښې مې د ژوند د لارې مل ئې
زۀ په دې شکر ګزار یم ستا د نوم سره اشنا یم

د ژوندون هره لمحه کښې ستا نه هېڅ هم فنا نشته
خدایه ما په نېغه لار کښې یم انسان که په خطا یم

ربه ستا فضل و کرم دے امتی د محمد یم
دا چې زۀ ئې په فراق کښې د مودې راسې جلیا یم

د غفور نامې دې خدایه زۀ بې شانه طمع دار یم
زۀ په تېر خطا د ژوند کښې دومره ځکه بې پروا یم

په هر بوټی هر یو کانړی علامې ستا د قدرت دی
زۀ ساثر په پښتو ژبه په صفت کښې دې ګویا یم

# د ارمــــان پــه څـــلی

هــیڅ څــوک هــم پــه ښــکالو د بیابانــه راتــه نــه شــو
واپـــس زمـــا اشـــنا د دې دامانـــه راتـــه نـــه شـــو

هر څومره که مې اوښکې د ارمان په څلی توئې کړې
د ټــول عمــر اوده جانـــان ګویانـــه راتـــه نـــه شـــو

د ویــری تربګنــی د دې دنیــا نــه چــې مــې یوســی
عیسـی غونـدې زنځیـر کـوز د اسمانه راتـه نـه شـو

اشـــنا ســتا پـــه لیــدلو د زړه غــم مــې ســېوا کیــږی
دیـدن ځکـه ډېـر خـوښ سـتا د هجرانـه راتـه نـه شـو

یا ځان ئې کړو نانګاره یا مې چغې جانان نه اوری
مســکې د ورایــه ورایــه د خنــدا نــه راتــه نــه شــو

نــو مــا سائر پــه چغــو کــه هــر څــو بوغــه مــرۍ کــړه
څــه خپــل خبــر مــېلاؤ د هغــه ګرانــه راتــه نــه شــو

زۀ اوسېږم په جونګړه ته اوسېږې په محل کښې
ته به ئې په خوشحالو کښې زۀ د غم په لوئے دل دل کښې

د غزل رنګونه ياره په ما ثنګ به نه خورېږي
تا چې بيا سلائی کېښوو غلے غلے په کجل کښې

ستا د يادو چهل کاف دے چې په يو ساه مې ګردان کړو
ستا د خيال پېريان مې بند کړو د شيشې په يو بوتل کښې

اوس په شونډو مې جانانه ستا د يادو وضيفې دی
ترمې اوښکې مې تسپې دی راشه ګوره په منګول کښې

په شفق تياره خوره شوه د وعدو مزے دې شلېږي
قدمونه ګړندی که رارسيږه په مزل کښې

تا چې کډه په سر بار کړه ښکاری بل وطن ته درومې
بيا خو ما ځان سره بوځه **ساثر** څه کوم کبل کښې

ستا د ونبکی ول دے خندنے پـه بهانو کښي وے
تـا د زنـي خال راتـه سپارلے بخښانو کښي وے

يـاره لامبوزن نـه ئـي د ځـان سره بـه ئـي وړے وے
کاش که غورځنګونه مي داوښکو په چينو کښي وے
تـا تـه بـه ئـي بيا پـه غـور غـور دومره نـه کتـل
دومره کـه شعور زما پـه سترګو ليونو کښي وے
ستا د ناتاری نظـر اثـر بـه ئـي تـت کـړے وو
دريغـه دا اثـر کـه پـه لـوګی د سپېلنو کښي وے
نـم زمـا پـه حـال بـه ئـي د سترګو څڅېدلے وو
زړونه کـه د غوبنـي د اغيـارو پـه سينو کښي وے
مـا بـه پـري تـوتې تـوتې زړګے خپـل راټـول کـړے وو
ستا د زلفو مزی کـه پـه څوکو د رينو کښي وے

مـا ساثر لـه لاس کـه دي د مينـي لـړ راکـړے وے
ژونـد بـه خامخا زمـا اشـنا پـه رنګينو کښي وے

Pukhto.Net
پښتو

چې ستا د سترګو ادم خورو راته فکر نۀ شي
بل خوا ته ګورم چې ئې رو رو راته فکر نۀ شي

ستا د بلۍ سيورى ته غلے غلے ځم لاليه
سپوږمۍ مې سين نه کړی د ستورو راته فکر نۀ شي

اوس په کوڅه چې دې تېرېږم مخ ته لاس نيسمه
چر ته چې ستا د سترګو تورو راته فکر نۀ شي

په توره شپه اور اورکي خدايه د کومې راغلل
ځينو خو اولېدم د نورو راته فکر نۀ شي

اوس کشمالي په مات کودى کښې ئې بلها لوئے شوى
سائره خيال کوه د سورو راته فکر نه شي

ګرانــــه ده ګرانـــــه د صــــــنم نـــــه د چـــــا زړۀ صـــــبريږی
د غــــم ربـــــاب د زيـــــر و بـــــم نـــــه د چـــــا زړۀ صـــــبريږی

ځنـــــګ غــــنم رنګـــــی د زړګــــــی د کــــــوره وباســـــمه
جنتـــــی ځيــــز دے د غــــــنم نـــــه د چـــــا زړۀ صـــــبريږی

په درنګ ساعت کښې غم غلط کړی هوا ګير کړی سړے
ناصـــــحه مـــــۀ کـــــړه د چـــــيلم نـــــه د چـــــا زړۀ صـــــبريږی

چـــې هـــم نشـــې وی تماشـــې وی او هـــم جـــام او جانـــان
د دې ســـــپرلی ســـــپرلی موســـــم نـــــه د چـــــا زړۀ صـــــبريږی

هغـــــه کـــــوڅې چـــــې راتـــــه ســـــتا د يـــــاد رنګونـــــه راوړی
د ښائيســـــــتونو د ډک چـــــم نـــــه د چـــــا زړۀ صـــــبريږی

چـــې دې پـــه زړۀ لاســـونه کېـــږدی ګنګوســـے کـــړی شـــونډې
ســـــــائره بيـــــا د هغـــــه دم نـــــه د چـــــا زړۀ صـــــبريږی

تـا چې ائـين کښـې خپلـو سترګو تـه لکـۍ کـولې
د مــخ پــه خــال دې منګــرو زلفــو څــوکۍ کــولې

بې ننګـه يـاره چې پښې وعـدې دې هېـرې کړلـې
کـه درتـه يـاد شـي نـرۍ څـوکې پريـوتکۍ کـولې

هغـه چې مـا او تـا بـه ورک شـو د يـو بـل پـه کتـو
نــو غلــي غلــي تماشــې بــه لــولکۍ کــولې

زۀ پـرې بې شـانه ويرېـدم مـا وې چې و نـۀ سـوزي
چې ستا پـه سيوری څانلـه لـوبې چرمخکۍ کولې

په انتظار کښې **سائر** ناست وومـه تـه رانـه غللې
تــا خــو اغيــار تــه د اختــر امبــارکۍ کــولې

تــا چــې بــد راســره وکــړل بــې بدلــه
اوس پخپلــــه لاره ځـــه زۀ بـــه پخپلـــه

چـې تنهـا شـې ښـه پـه غـور سـوچ پـرې وکـړه
زمـــا ښـــه د خپلـــو بـــد و ســـره تلـــه

ښــه مــې يــاد دی چــې نــرے نــرے بــاران وو
دروغژنـــــه تـــــا پخــــه وعــــده کولـــــه

مــا چــې وې تـۀ بـه ارمــان راپســې وکــړې
بېلتـــون راغـــے تـــا تـــه تېوقـــه ښــکارېدله

زۀ بـه ئـې تـا لـه د خپـل سـر پـه بېعـه واخلـم
د غېـــرت جنـــډه کـــه چرتـــه خرڅېدلـــه

زۀ ساٸر چې دې په نيمه شپه کښې پرېښوم
اوس مــې څــه لــه تپوســونه کــړې د بلــه

ثنګ لکه هندوان مړے سندرو کښې سېزی
داسې مې بې ننګه یار خبرو کښې سېزی

ماهره کلال لوښی ښه ښائسته د خټو جوړ کړی
نا پوهه کلال ګوتې په کودرو کښې سېزی

خندا د مستو جونو چې د اور بخړی نولی
نو لوئے لوئے چنارونه په کودرو کښې سېزی

څه داسې اسویلې مې د زړګی د درده خېژی
والله چې تنکۍ څانګې په نخترو کښې سېزی

ښائسته ګلان په غاښو لکه اور د زیلې ریبی
شکنهان خو څکه خلق په کمرو کښې سېزی

ساثره بس که بس که په قلاره کلے پریږده
لا نوردې هم په سترګو جادوګرو کښې سېزی

## اختر

منګے په ترخ کښې او په لاسو نکریزې ګلونه
لاړلو وران مو شو د کلی او ګودرو اختر

غاړه غړې مبارکۍ د اختر ختمې شولې
موبایل جوړ مو کړو اختر د مسافرو اختر

تا چې قصداً زما د ژوند خوشحالۍ واغستلې
ما مجبورا په مېخانه کښې پيالې واغستلې

اوس که راځي که نۀ راځي اختر په تلو کښې شولو
د انتظار شمعې به مړې شي سېلۍ واغستلې

زۀ اول ستا نه ګيله وکړم که د بادو باران
تا خوشحالۍ مې د ستم په ږلۍ واغستلې

بيا به دې پښې په زمکه نۀ شي سرګردانه به شې
لر شه اشنا که مې د اوښکو غولۍ واغستلې

ما **ساثر** وينې د زړۀ ورکړې اوبه خور مې وکړو
اغيار ترې ډکې د ګلونو جولۍ واغستلې

# د بیت الله ارمان

دلتــه کــه یــم خبــر د ے خــو هغــه راتــه یــادیږی
ډکـــه د انـــوار خانـــه کعبـــه راتـــه یـــادیږی

بـل شـان مـازیګر بـه وو چـې ډک بـه د خونـدونو وو
خلـق بـه سـیلاب غونـدې روان پـه طـوافونـو وو
پـه هتـکـو او سـلګو شـم چـې مکـه راتـه یـادیږی
ډکـــه د انـــوار خانـــه کعبـــه راتـــه یـــادیږی

کله چې دې سوچ کښې شم نو تنده د فـراق مـې شـی
بیـا د لېونی غونـدې پـه ځـان پـورې مـذاق مـې شـی
نخښـــه د قـــدرت زم زم چینـــه راتـــه یـــادیږی
ډکـــه د انـــوار خانـــه کعبـــه راتـــه یـــادیږی

منډې د صفا او مروا ښنګ د زړۀ ويستے شمه
غر ته د صفا مروا زۀ ښه په زير کتے شمه
بيا لوئے د الله شان او مرتبه راته يادېږی
ډکه د انوار خانه کعبه راته يادېږی

نفل چې کول به مې مقام خليل الله سره
بيا لاس په دعا به شومه زۀ د الاالله سره
خپل د اوښکو سين چپه چپه راته يادېږی
ډکه د انوار خانه کعبه راته يادېږی

بيا چې د مکې لاړمه کله د منی پورې
هلته مې شپه تيره کړله خلقه د صبا پورې
اوس ګړی ګړی لمحه لمحه راته يادېږی
ډکه د انوار خانه کعبه راته يادېږی

بيا د عرفاته پورې نيت مې د سفر وکړو
نيت د واپسی مې په پرېوتی مازيګر وکړو
ډېره يخه شپه مزدلفه راته يادېږی
ډکه د انوار خانه کعبه راته يادېږی

بیا مې تر سحره نیت په ویشتو د شیطان وکړو
ځو که راته دغې مردود ځومره هاۍ سوران وکړو
نــو هغــه د وړو کــاڼو شــیبه راتــه یــادیږی
ډکــه د انــوار خانــه کعبــه راتــه یــادیږی

بیــامې د منــی پــه مقــام ښــکلی قربــانۍ وکــړه
دا مــې د خپــل رب د حکــم ښــه تابعــداری وکــړه
چغــه د لبیــک د رب نامــه راتــه یــادیږی
ډکــه د انــوار خانــه کعبــه راتــه یــادیږی

زۀ ساٸر چې لاړلمــه بیــا د مــدینې پــورې
کلــه چې نږدې شومه د پــاک نبی روضې پــورې
نــو خپلــه د ګرېــوان ټوټــه لمــده راتــه یــادیږی
ډکــه د انــوار خانــه کعبــه راتــه یــادیږی

ما د خپله ځانه ورک کړی، ګله ستا تشه پوښتنه
د خپل تن هډوکی دل کړم د سوچونو په مېچنه

چې زما په لور راګوری تعجب مې ورته یوسی
دا لړۍ لړۍ د اوښکو وچوومه په لمنه

دا ګورګوره ده جانانه چې په واورو کښې ښکارېږی
که دا تور خالګے ځلیږی ستا په غونډه منډه زنه

دا یو دوند چې دې چاپېره د ښائست په کلی خور دے
دا پرې شنې لوخړې خېژی سرا سر زما د تنه

ستا خو دومره نا کړدې دی چې په ګوتو نۀ شماریږی
زۀ به چا ته سائر وکړم د الفت قیصه غمژنه

ضدی اشنا که را جدا د خپله دهرمه نۀ شی
خو د فراق دردونه پرېستې ما له برمه نۀ شی

وریځ د زلفو کښې د حسن اسمان مه برېښوه
تندر ارتاؤ مې د نادان زړګی په للمه نه شی

پۀ اسویلو مې په نازبینو شونډو لاړې توکه
چرته چې ستا د ستمونو پاله ګرمه نۀ شی

څه به رنګین ډوب سلا له ته پسرلې اووایم
چې په وریځو ترې سپوږمۍ پټه د شرمه نۀ شی

همه دنیا به ترې خبر شی زور ئې سترګو له ځی
**ساثره** بیا دې د اهونو کتهوی ترمه نۀ شی

Pukhto.Net

شروع قیصه وه خو تر اوسه ئې سر ختم نۀ شو
د بې منزله قافلو مې سفر ختم نۀ شو

هغه تېشه چې د فرهاد د مرګ سبب جوړ شو
فرهاد ئې مړ کړو خو سورے هم د غر ختم نۀ شو

چې روزانه راځي په وينو مې منګولې سرې کړي
ښکاری اشنا چې ستا په چم کښې اختر ختم نۀ شو

لکه هوا کښې چې يو باز مرغۍ په پنجو نيسی
ستا د قاتلو سترګو کښې دغه اثر ختم نۀ شو

دا ستا د مينې معجزۀ وه چې ښکاره شوه په ما
ستا په ليدو چې مې د سترګو نظر ختم نۀ شو

پۀ ما سائر دې د ظلمونو ازمونې وکړې
په دې لپاسه امتحان د صبر ختم نۀ شو

ما به خود خاورې ایرې کړی دا د عمر انتظار دے
دا ټوټې ټوټې مې زړهٔ دے که د ماتو بنګړو بار دے

خریدار د حسن ډېر دی ځائے په ځائے پکښې ولاړ دی
چې یوسف پکښې بولی شو دا د مصر یو بازار دے

چې د یار په مینه مست وی هغه سور اور ته وردانګی
که نمرود پکښې بل کړے څو خلیل ته سور انګار دے

چې سرې وینې ئې ګویا شوې کړې د حق نعرې ئې پورته
دا د حق وینا بدل کښې هم منصور ختے په دار دے

دا ژوندے مثال که ګورې ټول د مینې برکت دے
په تکمیل د رب د حکم خوږ نبی پرېښلے ښار دے

تهٔ به هم لاړ شې ساژره ځکه دا فانی دنیا ده
د مرګی په حال خبر دې خپل خالق پروردګار دے

سلګو اغستم تا مې ذکر په محفل کښې کوؤ
مینې دې رو رو ځائے زما د زړۀ په تل کښې کوؤ

کاش چې سپوږمۍ کښې ائینه وے دیدن ګران به نۀ وو
ما په جونګړه به دیدن ستا په محل کښې کوؤ
چې مې دا ستا د مخ خالونو کښې نظر ګرځوؤ
که چرته سېل مې د ګورګورو په یو تل کښې کوؤ
هغه نائني ته به څنګه مې فکرونه نۀ ځي
په احترام چې ئې سینګار ستا په اوربل کښې کوؤ
پروا به نۀ مې وه جانانه که رضا وې پرې ستا
د اغیار مخ کښې هم دیدن به مو په چل کښې کوؤ
هغه به هم زما د خوږ ژړګي په سر لګېدو
تا که خطا رسا ګذار به په اټکل کښې کوؤ

**سائر** که هر څو رقیبانو د دار سر له بوتلم
خو د جانان جانان اواز مې په مقتل کښې کوؤ

خیـال کـوه پـولې پولې ارمـان مـې پکښـې وَ نـۀ چـوی
للمـه چـې د اوښـکو پـه بـاران مـې پکښـې وَ نـۀ چـوی

سـتا اقـرار د ژبـې دې هـر ګـز متزلـزل نـه شـی
سـتا د وعـدو غـر اتـش فشـان مـې پکښـې وَ نـه چـوی

سـتا د سـتم پلـک پـه دوه لاسـی چـې پـرې راپرېـوځی
دا څنګه کېدے شی زړۀ سندان مـې پکښـې وَ نـۀ چـوی

ګـوری سـتا جمـال تـه پـه هـیڅ حـال هـم قلاریـږی نـۀ
ګـاتې چـې د سـترګو دا نـادان مـې پکښـې وَ نـۀ چـوی

مـا سـائر تـه لار کښـې د خپـل حسـن شـمعې بلـې کـړه
پونـدې چـې د هـر سـتړی ارمـان مـې پکښـې وَ نـۀ چـوی

د چا پـــه لمســـه مـــرور شـــو جانـــان
ازار مې واخست در په در شو جانان

ستورو پرې ځکه ګواهي وَنه کړه
چې په رڼا ورځې منکر شو جانان

چـــې زمـــا مينـــه ئـــې دروغ ګڼلـــه
ښۀ شوه په خپلو اوښکو تر شو جانان

زۀ ســـاثر ځکـــه پســـې ډېـــر کړېـــږم
لاړ د وطنـــه مســـافر شـــو جانـــان

سکڼې ماښام وو په شفق رڼا خوره وه کنه
وایه په تول د محبت باندې پوره وه کنه

چرته چې تلو کښې اشناستا نازبینې پښې رېږدې
دغه زما د ارمانونو مقبره وه کنه
چې به کشتۍ مې د خیالونو په چپو ستونېده
هغه زما د تېرو یادو جزیره وه کنه
تا ترې ارتاؤ کړمه د خپله حقه مړ دې کړمه
څو که مې لوړه د خیالونو تا تره وه کنه
زۀ دې پرې اویشتم او عمر له رنځور دې کړمه
دا ستا خندا وه د نازونو خو سپېره وه کنه
پخې وعدې ئې په غرور خپلې ټوټې ټوټې کړې
هغه په اس د تکبر باندې سوره وه کنه

زما **ساٸر** د خوشحالۍ اوښکې راتلې د سترګو
هغه زما د تصور یو ګل دره وه کنه

تا که په سترګو کښې کوله خو ما ښه واورېده
ستا د انکار خبره بیا د زړۀ کاله واورېده

ستا د ملالو سترګو تول رانجه به اوښکې یوسی
په خاموشۍ که دې زما د ژوند قیصه واورېده

بیا د شپونکی اواز انګۍ شولو د غره په لمن
ما په شپېلۍ کښې ترینه ستا د یاد ټپه واورېده

څکه مې ډېره ژړا وکړه تر ماښامه پورې
ستا د نازکو شونډو نن چې مې ګیله واورېده

څکه خو ساه مې په ګوګل کښې ټینګه نۀ شوه اشنا
ما چې دا ستا د قدمونو انګازۀ واورېده

زۀ **ساثر** داسې ورته پروت ووم لکه بیم ته چې مار
په تصور مې ستا د یادو ترانه واورېده

نور یو خس مې پاتې نۀ دے اطمینان د زړۀ په کور کښې
ستا یادونو مې جوړ کړے یو طوفان د زړۀ په کور کښې

هر ارمان مې پکښې مړ کړې او هم هلته ئې دفن کړې
جوړې تا راله جوړ کړے قبرستان د زړۀ په کور کښې

خپلې اوښکې ائینه کړم او د زړۀ سکور مې کجل کړم
اشنا تا لره ګرځومه دا سامان د زړۀ په کور کښې

زۀ د مینې نه توبه کړم وېمه نوم به دې وانخلم
وسوسې مې کړی راجوړې بیا شیطان د زړۀ په کور کښې

مړه چپ شه غلے کښېنه د ګیلو نه څۀ جوړیږی
تۀ به څو ساتې زما نه دا خفګان د زړۀ په کور کښې

ستا دغم ستم زوقم دی چې په زړۀ مې راتوکیږی
زۀ ساثر اوښکې ورومه چې باران د زړۀ په کور کښې

## د سپرلۍ سندره

دا ټېل ناټېل کوي چې پسرلے ښکلی ګلونه
بیا کور ته د زړګی مې راستونېږی ستا یادونه

وګوره شړشمې په پټو چاپېره ګل شوې
غنچې د کشمالو هم په چاټو چاپېره ګل شوې
اوری مې د سترګو نه د اوښکو بارانونه
بیا کور ته د زړګی مې راستونېږی ستا یادونه

اوس هغه ورځې لاړې چې یو زۀ بل به اشنا وو
د ښکلی پسرلو سره به یو ځائے په خندا وو
چې وریږ نرمې هوا به د اشنا زلفی تالونه
بیا کور ته د زړګی مې راستونېږی ستا یادونه

په دې غرونو تنګو کښې د چینو اوبه به ماتې وې
که یار به مرور شو نو زما به ننواتې وې
زما نه به څنګ هېر شی دا د مینې منظرونه
بیا کور ته د زړګی مې راستونېږی ستا یادونه

په دې پولو پټو کښې به شنې ونې د کیکرو وې
ګل ګل پلوارو سره به ونې د نختړو وې
هېر به مې شی څنګه دا د کلی چنارونه
بیا کور ته د زړګی مې راستونېږی ستا یادونه

تا به څه رنګې راټول کړم اے ريخې ريخې ګرېوانه
چې لوند خوش ټکړې ټکړې ئې ته د اوښکو د بارانه

خلق مخکښې خبرليږی څوک د چا چې مېلمه کېږی
په ما ستا غمونه راشی مېلمانه شی ناګهانه

ما زړۀ ټينګ ورته نيولے تۀ دې پلک د ستم راوړه
تمبوه په زوره زوره ئې زما د زړۀ سندانه

دا د مينې امتحان په عقل هوش باندې پاس کېږی
زما عقل هوش چې لاړل څنګ دې پاس کړم امتحانه

چې په ژوند دې زما سيورے تل په کاڼو باندې ويشتے
اوس مزار زما **سائر** ته ولې اودرېدې حېرانه

لکه تار کښې چې د زلفو پرهرونه مې ګینده کړې
ته بانه چې دې د سترګو اننګو ته په سجده کړې

ته چې بیا بانه اوچت کړې داسې غشي ترې رادانګي
لکه سترګې جادوګرې چې دې ما لره لینده کړې

د زړګي په شاړه للمه د وصال باران راښکې کړه
د وفا تخم به یاره په دې للمه کښې زنده کړې

ستا د یادو یو سرود دے چې نادان زړۀ مې نیولے
زۀ به څه خوبونه وکړم چې دې غم په سرینده کړې

کاش ساثر به درته یاره قیل و قال کولے نه شم
د مزار په اوپره خاوره که مې شمعې ځلنده کړې

Pukhto.Net
پښتو

# پسرلے

شو پسرلے نرمه هوا ده په ګلونو لګی
راځه اشنا اوس به رنګونه په دشتونو لګی

د ښار په دوړو لوغړن اشنا مزې ترې واخله
زما د سوات سیند په سپرلی کښې په موجونو لګی

راځه چې وینې شور غوغا اوس د ګودر په غاړه
د مستۍ چغې ئې په دنګو چنارونو لګی

دی نظارې خو فوارې اوښکې مې څاڅی په مخ
د زلفو ځنې سره ئې چوټې په خالونو لګی

دا د سپرلی ورځې د شمار دی په تلوارې راځه
ستا د سبا سبا راتله خو په کلونو لګی

هغه د دنګو غرونو واورې رخصتونه اخلی
د تنګو کاڼی به اوس بیا په اوزاونو لګی

سائره خور د بوډۍ تال شو د شفقه پورې
که نۀ د پېغلو په وښکو د خندا ولونه لګی

Pukhto.Net
پښتو

د وختونو تبرګې پکښې جغنده وهي لګيا دے
که هر څو دې سروې قده د چنار لوړه ځواني ده

دا خندا د ژوند پتهی کښې کرونده کړي دغمونو
دغه ناز په دنياګۍ او دا خندا دې نقصاني ده
که راکړے نو په دنيا کښې راله لاس په اخلاص راکړه
په محشر کښې خو زړګيه تول په تولّه ځان ځاني ده
د مغرب نه ئې راولې په مشرق کښې مې زخمي کړې
په والله خوږه جانانه ايتهي ستا دشمني ده
زۀ په هر مانځه کښې ګله ستا د ياده سهوه کېږم
چې دا ته څنګ مسلمان ئې دا دې څنګ مسلماني ده
د اسمان سپوږمۍ دې ځانله په وريځو کښې پټيږي
خو زما د زړګي دشت کښې ستا د حسن رنګيني ده

د ساثر د زړګي کور چې دا کنډر کنډر ښکاريږي
نړولې ښۀ قصداً ئې تا د مينې وداني ده

دې زړۀ ته که مې اوګورې پرهر پکښې ښکاريږي
دغه سپينې سپينې اوښکې که ګوهر پکښې ښکاريږي

ائينه ئې د شرطونو چې زما مخې ته کېښوه
چې فرهاد ئې وو وژلے هغه غر پکښې ښکاريږي

دا ول د اننګې دې د ښائست په دائره کښې
تور خال دې د جبين لکه د نمر پکښې ښکاريږي

د زلفو منګرې دې په هيڅ شان نۀ قابو کيږي
بايد چې د موسی د امسا سر پکښې ښکاريږي

اوس ډک د اوبو جام ته زۀ ساثر کتلے نۀ شم
تول ستا د قدم چاپې او ګودر پکښې ښکاريږي

اوښکې مې څاڅي خو ګرېوان له تسلي ورکووم
را به شي رابه شي خپل ځان له تسلي ورکووم

هر يو ګذار ئې د پلک درونند دے خو زۀ صبر کوم
زۀ په سلګو زړګی سندان له تسلي ورکووم
تُنده هوا پرې ده رالوتي رېږوی ګلونه
زۀ څه په چل ول کښې باغوان له تسلي ورکووم
ما ته کنځل وئيل کوی خو ملا زۀ ئې ګڼم
د خپلې مينې قدردان له تسلي ورکووم
خېر که يادونو دې په ما پسې لښکر کړے دے
ستا د يادونو هر کاروان له تسلي ورکووم
هغه چې نۀ راځی نو نۀ راځي پښتون دے جانان
يم ليونے چې شک ګمان له تسلي ورکؤوم

ستا په انځور د وښکی ول کښې قلم مات شو زما
اوس ساﺋﺮ ناست يم قلم دان له تسلي ورکؤوم

ستا د ښائست په ګلدرو ستا په ښکلا مات شوے
د حسن باغ ته مې د اوښکو لختے بيا مات شوے

چې مې د زړۀ کور ته راځې څه له زنځير ټکوې
زما د زړۀ نه ستا د غم ستر پخوا مات شوے

خپلو هوسو سترګو ته خيال په ائينه کښې وکړه
چې دا په ځائے او که بې ځايه زړۀ زمامات شوے

ما ساغر نن د زړۀ تخته کښې ستا انځور جوړوو
ستا د وښکې په ول زما د قلم سا مات شوے

اوس مې دې اوښکو قافله غېږه کښې ونيسي
مړ چې شم نو بيا مې دې هله غېږه کښې ونيسي

دومره حوصله زما په خيال د چا کېدے نۀ شي
تندر د اسمان نه چې شغله غېږه کښې ونيسي
وخت کښې د وصال چې مې د سترګو نه روانه شي
څوک به مې د اوښکو دا وله غېږه کښې ونيسي
ستا د هيبت ناک حسن چې څاڅي د غصې په وخت
څوک به د تور خال دغه خوله غېږه کښې ونيسي
شونډې د ګل پاڼې او بانه ئې د ګلاب ازغي
څوک غاړه غندل به دا ګمله غېږه کښې ونيسي
داسې ئې زلفې رپې لکه څنګه په د پوال هسې
څوک به دا د زلفو زلزله غېږه کښې ونيسي
څوک په دلاسه به مې د تراړو تراړو شونډو نه
دا ارمان زيلي يو ګيله غېږه کښې ونيسي

زۀ **سائر** به ئې څه په مينه سترګو کښې کجل کړمه
څوک که دغه خاورې ستا د پله غېږه کښې ونيسي

بیـا جـړی راتـه اوږدې د یـار د غـم شـوې
د امیـد پـه دنګـو غرونـو واورې پـرم شـوې

د تـودې غیـرې ارمـان بـه دې کـؤم څکـه
چې شوشـکیږم ورځـې یخـې د موسم شوې

بیــا د زړۀ د دروازې زنځیــر کړنګیــږی
ستا د یـاد ښکرې درشـل تـه ئـې اړم شـوې

پــه اهونــو مــې د زړۀ کټــوی خــوټکیږی
څکـه دواړه سـترګې ډکـې مـې د نـم شـوې

پــه غیــرت دې دتــاریخ پــاڼې ګــواه دی
تـا چـې مـا تـه لکـۍ جګـه کـړه لـړم شـوې

پــه کتــو د **سائر** هــیخ دې نــۀ کمیــږی
ټول تـاوان بـه درلـه درکـړی کـه تـۀکم شـوې

Pukhto.Net
پښتو

# د سوات نه د ګډو ویستلو په وخت

په ملاکنډ مې اوښکې په ښکته ښکته لاړې
زما وطنه سواته تا ته په شا ګورمه

په غم لړلی سلګۍ داغلی غلی سلګۍ
د چا نازبینو خپو کښې ازغو تومبلي سلګۍ
دا ښار په دوړو کښې به چرته اشنا ګورمه
زما وطنه سواته تا ته په شا ګورمه

دلته کښې دوړې د ښار هلته د غرونو ابشار
دلته کښې هڼ د بازار هلته بلبل په چغار
خدایه دا خوب وینمه که په ریښتیا ګورمه
زما وطنه سواته تا ته په شا ګورمه

خدایه تمبو له ورشم که ځان له کور اوګورم
که خودکشي وکړمه او ځان په ګور اوګورم
سم ئې کاواک کړمه زۀ دا څه بیدیا ګورمه
زما وطنه سواته تا ته په شا ګورمه

دا حیانـاکې پېغلـې زمـونږ سـر تـورې شـولې
خدایـه خیـرې وې د چـا پـه مـونږ راپـورې شـولې
د زړګـی زخـم لـه بـه څـوک مسـیحا ګورمـه
زمـا وطنـه سـواته تـا تـه پـه شـا ګورمـه

هلتـه د واورو چینـې دلتـه د ډنـډو اوبـه
نـورې زۀ څکـې نـه شـمه دا د هرهنـډو اوبـه
د فـراق تنـدې لـه جـام زۀ پـه صـحرا ګورمـه
زمـا وطنـه سـواته تـا تـه پـه شـا ګورمـه

خدایه په امن ئې کړې چې خپل خپل کلی ته ځو
یـا مـو ساوونه واخله چې خپـل خپـل ځلی تـه ځو
خدایـه سـتا در تـه سـائر لاس پـه دعـا ګورمـه
زمـا وطنـه سـواته تـا تـه پـه شـا ګورمـه

## خـــــــړې کـــــــوڅـــې

زمـا د يـادو نـه بـه ځنـګ ځـی هغـه خـړې کـوڅې
د ماشـومتوب پـه تنکـۍ مينـه ښکلې ککړې کوڅې

دغـه کوڅـو ښـکلې مـې وختونـه د ځـوانۍ ويسـتلی
په ماشومتوب مې پـه توتـانو ښـکلې مرغـۍ ويشـتلی
دی د پسـخوګتـانو جـوړې هغـه لـوړې کـوڅې

هغـه ډاګونـه چـې بـه مـونږ پکښـې مسـتۍ کـولې
چې د سپوږمۍ پـه رڼـا مـونږ بـه شـا تـوپۍ کـولې
چې بـاران راشـي نـو مـې يـادې شـی چقـړې کـوڅې

دی وابســـته دغــــه کوڅـــو ســـره يادونــــه زمــــا
دغـه مونـډو ښـکلې دی پراتـه نخښـې توغونـه زمـا
پــه کشــمالوګلونــو ښـکلی دی دا زيــړې کــوڅې

زۀ سـائر اوس هغـه کوڅـو تـه پـه ژړا ودريـږم
سـتا د قـدم هغـه خـاپونو تـه پـه غـلا ودريـږم
اوس هـم د مينـې رنـګ راوړی هغـه شـبړې کـوڅې

ما پورې خندا کوې پاګل دې رانه جوړ کړو
ټول دې لوټې لوټې کړم کابل دې رانه جوړ کړو

داسې دې په يادو کښې چپې چپې اخستے يم
ډب دې کړمه ډوب دې کړم غورشل دې رانه جوړ کړو

غنې د ستم دې په ټول تن کښې زما ښخې کړې
سور مې په اوربل کړه اشنا ګل دې رانه جوړ کړو

وژنې ارمانونه مې د زړۀ په کور کې کښې ته
خوږ زړۀ قتل ګاه مې شو مقتل دې رانه جوړ کړو

دے پرې سپيا د حسن او زما د ارمانونو جنګ
ډک د کشالو دې کړم کارګل دې رانه جوړ کړو

ناست وومه يواځې ستا يادونه مې ملګرى شول
شعر شوم ټپه شومه غزل دې رانه جوړ کړو

تا مې هتکړې زلفې د لاسو راچاپېره کړې
زۀ **ساثر** که ساز وومه خو غل دې رانه جوړ کړو

تا که تيارو کښې د سپوږمۍ نه پلوشې اخستې
ما دې د حسن د سکروټو نه لمبې اخستې

نن چې سپرلی زما د سوی زړۀ لوګی پورته کړل
چمن کښې سرو ګلو د يو بل نه بوسې اخستې

ما پرې نن کړې وه د خپل زړۀ د ټکور اراده
چې په سودونو مې ستا خاورې د کوڅې اخستې

په زاره چاودی مزل خپې زما تنهاکې شولې
څکه مې ستا د زلفو سيوری ته دمې اخستې

دا په کوڅه کښې چې نن جوړه وه غوغا د ساڅر
تا ئې د مړو مړو ارمانونو جنازې اخستې

که تري هر طرف ته لاړ شم وسوسې دې رارسيږي
پــه مشــرق ختلــی نمــره پلوشــې دې رارســيږي

تۀ که هر ځائے کښې ماتېږې د کماله خالی نۀ ئې
د ليلـی د لاس بنګړيــه خــو شيشــې دې رارســيږي
لا مې پښې شولې تناکې لا به تول ريچې ريچې شم
اے زمـا د جانـان کليـه ستا کـوڅې دې رارسيږي
لږ پـه منډه منډه راشه د خپـل ياد ډيوې دې راوړه
د اسمان لمنې سرې شوې بس تيارې دې رارسيږي
ستا د زلفو مزی بيا مې په رباب د زړۀ سواره کړو
بس څه راګ پکښې غريږی او نغمې دې رارسيږي
ســتا د خيــال مـزی ترمــه بـاجوې پـرې اوچتومــه
ســتا د زلفــو د تــارونو بيــا نچــې دې رارســيږي
زۀ حېـران يمـه پـه دې چې رانـه ډېـر پـه فاصـله ئې
خـو بيـا هـم د بـاڼو غشـی ډېـر نـزدې دې رارسيږي

زۀ ساثر بــه غــم زپلے د عقبـی پـه لـور يـم تلے
بيــا بــه څــه کـؤم اشــنا کــه دلاســې دې رارســيږي

مئـين زړګـے مـې قلاګـانې سـتا د خيـال جـوړ وی
چې سـتا د حسـن په اسمان د بـوډۍ تـال جـوړ وی

د زړۀ ټکـړې زمـا سـيزی بيـا ئـې پـه کـانو ټکـئ
د ګنـډېرې پـه سـلاټې تـرې پـه مـخ خـال جـوړوی

پـوهيږی هـر يـو کـاريګر د خپـل هنـر پـه ژبـه
د خـاورو شـګو نـه ښائسـته لوښـی کـلال جـوړوی

اشـنا چـې زلفـې وريـځ راولـی پـه خپـل رخسـارو
زمـا د اوښـکو نـه شـيبې د پشـکال جـوړوی

ساٸر چـې سـتا د چـم کيکـرو کښـې توتـان لټـوی
لېـونے نـۀ دے بهـانې سـتا د وصـال جـوړوی

تا ته د اوښکو په جرګو مې ننواتې کړلې
خو تا مې اوښکې په ګرېوان کښې ډنډې پاتې کړلې

د زړهٔ په للمه ستا د ياد مې بارانونه کېږي
دې بارانونو مې د اوښکو چينې زياتې کړلې

اوس چې سينګار کوې ګلپاڼه د اوبو په جام کښې
حسن د سترګو ئې څو څو ائينې ماتې کړلې

خود د ګيلو پېټې به زهٔ په ټول خيبر ګرځووم
تا چې اغيارو ته تنکۍ شونډې نباتې کړلې

دا زهٔ سائر يواځې نهٔ يم چې فرياد کؤمه
دې بې وفاؤ دهر چا خونې ميراتې کړلې

تینګ دې که ماران د زلفو لړ په اندازه ئې که
ټک راله رانۀ کړی ګورے لړ په اجازه ئې که

تن مې داسې اوسیزه چې سم رانجه رانجه شی ټول
یوسه د زړۀ وینې مې په شونډو کښې غازه ئې که

ژرنده د ستم مې په بېلو د اوښکو کیباسه
تن مې که ډل ډل په خپل ستم ریزه ریزه ئې که

راشه پس د مرګه که د قبر ئې لټون کوې
بیا ئې د درک د پاره نخښه یو خازه ئې که

یا خو دې ساثر په ډرون حملو د نظر دوړه که
یا ځان ئې که جانان ئې که دربان په دروازه ئې که

تا د ریښې ریښې ګرېوان په سر مې ننګ و نهٔ کړو
زما ماشوم ماشوم ارمان په سر دې ننګ و نهٔ کړو

چې وی پښتون نو د خپل سپی په سر ننګونه کوی
بې ننګه یاره د انسان په سر دې ننګ و نهٔ کړو

په تا به هم وی ډمامه کړی د کلی نائی
زما د اوښکو د باران په سر دې ننګ و نهٔ کړو

لا به دې مور وی په جولو جولو غوزان ویشلی
ډېرئې بدبخته د افغان په سر دې ننګ و نهٔ کړو

لکه منږک پردو شاودو ته برېتوکی تاوهې
د کشر ورور خپل مسلمان په سر دې ننګ و نهٔ کړو

ساڼره نوم د بدنامۍ به دې شی خور په دنیا
که د خېبر او پاکستان په سر دې ننګ و نهٔ کړو

د زړګی پرهر ګنډون به مې ښه وشی
ستاد زلفو تار مې کېښوو په رینه کښې

چې بتهیار په توده مالګه ئې ټکور کړی
هله خوند راپیدا کېږی په نینه کښې

شګو ګل د غره لمنه کښې پړقیږی
یا سپرلی کړه نرګس ګل په پودینه کښې

بیاغصه شوې په جبین دې خولې راغلې
را غوپه مې شه د اوښکو په چینه کښې

ستا په ګل وربل د خیال مچۍ مې تاؤ شوه
عجیبه خوند ئې پېدا کړو ګبینه کښې

زۀ سائر به ورته څنګه حېران نۀ یم
تا چې ځان کړلو سینګار په ائینه کښې

په سوال منت که ورته سر یم خو جانان نهٔ راځی
ولې به اوښکې مې رودونه په ګرېوان نهٔ راځی

زما نظر دې پکښې ګېر پېر تيند کونه نهٔ خوری
لړې دې چرته ستا د حسن په اسمان نهٔ راځی

زما يادونه به دې داسې ځائے کښې ولړزوی
چرته چې ستا د لېونی خاطر ګمان نهٔ راځی

ته دې په مخ د تورو زلفو وريځ مهٔ خوروه
زما د ترمو ترمو اوښکو به باران نهٔ راځی

زما ساٸر په اسوېلو چې دې خندا جوړه کړه
ستا په کافر زړهٔ مې يقين د مسلمان نهٔ راځی

زۀ یم ناست خو شی صحرا کښې ستا دخیال راسره جنګ دے
د کیکر د ونې خوا کښې څه یخ سیورے د لونګ دے

ستا په سپینو اننګو چې چورلکونه خوری ګډیږی
اشنا ګوره ائینه کښې دا زما د وینو رنګ دے

تا زما د زړۀ په کور کښې ښۀ پرتل وهلے ناست ئې
اے زما ساده لالیه بیا په ما دې څه قلنګ دے

ده درخو چې سر ګردانه عقل هوش ئې په هوا دی
لګیدلے ئې په غوږو د ادم د رباب ترنګ دے

د اوبو په روڼ تالاب کښې پخه اوسپنه زنګ کیږی
زما هم د اوښکو ډنډ کښې د ستم خنجر دے زنګ دے

د محل د دیوالګی نه پښې کړه دنګې سر اوچت کړه
ستا ساثر ستا په کوڅه کښې نن ولاړ لکه ملنګ دے

خال په غونډه زنه په هنر د پاسه کېږده
نور تازۀ زخمونه مې ځيګر د پاسه کېږده

زړۀ تيکه تيکه مې په باڼو د سترګو اوپيه
بيا ئې د خپل حسن د مجمر دپاسه کېږده

څانګې د خونه مې په مزار د خاورو کې نۀ ږدې
غنې مې په قبر د کيکر د پاسه کېږده

زۀ ساﺋر به تا ته ياره اُف د خلې وَ نۀ باسم
غرونه د تهمت زما د سر د پاسه کېږده

نظم

زمـا د ســوات نــه پــه زرګونــو ګلالــۍ تلــی دی
د شــهادت پــه وینــو سـرې ډولــۍ ډولــۍ تلــی دی
ښنګــــه یــــواځې د ملالــــې پــــه غــــم وژاړمــــه

داسې ګلونـه ماشومان تلی چې هیر بـه نـۀ شـی
د بـاجوړ وزیرسـتان تلـی چـې هیـر بـه نـۀ شـی
د کــوم بلبــل د کــومې جــالې پــه غــم وژاړمــه
ښنګــــه یــــواځې د ملالــــې پــــه غــــم وژاړمــــه

کلــه چــې فکــر شــازیې او کائنــات تــه وکــړم
ضــرور ګیلــه بــه زۀ خــالق د مخلوقــات تــه وکــړم
هنـدو خـو نـۀ یمـه چې چغـې لات منـات تـه وکـړم
د کــوم ســتم د تــودې پــالې پــه غــم اوژاړمــه
ښنګــــه یــــواځې د ملالــــې پــــه غــــم اوژاړمــــه

شمه غمژن چې کله فکر پاکستان ته کوم
په خاصه توګه چې د حال افغانسان ته کوم
د رب رحم سوال به زۀ هر مسلمان ته کوم
په هر سنګر به د ننګیالې په غم وژاړمه
څنګه یواځې د ملالې په غم وژاړمه

د یو لاس ګوتې دی د لر او که د بر پښتانه
د کراچۍ بلوچستان او د خیبر پښتانه
ظلم پرې کیږی که اوسیږی په هر در پښتانه
زۀ اخر څنګ د کلی والې په غم وژاړمه
څنګه یواځې د ملالې په غم وژاړمه

په ډرون حملو چې لګیدلی ماشومان وو کنه
دغه به هم د چا بچی مسلمانان وو کنه
په خاورو ګډو کښې پراته ټول یتیمان وو کنه
زۀ د زخمی که د حلالې په غم وژاړمه
څنګه یواځې د ملالې په غم وژاړمه

دلته زۀ په سپینه ږیره هلته ستا ځوانی په تلو ده
چې خزان کړم پاڼې پاڼې څه مې طمع د سپرلو ده

دا چې زړۀ مې ټول درزېږی تن کښې ښکته پورته کېږی
ستا د ناز د قدمونو اوربدلی ئې ښکالو ده
بې ربباره که زۀ درشم بیا به تا ته څنګه ګورم
زۀ دې نه درځمه خوا له زړۀ نیولی مې پښتو ده
تا خو وئیل چې زۀ به درشم د سپرلی وعده پوره کړه
د کودرو کټوۍ ډکه مې د زیړو کشمالو ده
ارمانونه مې دل کېږی د ستم ژرنده پری ګرځی
دا ناوه چې پرې راخلاصه مې د اوښکو د بېلو ده
د وصال پارچاؤ دې راوړه د ستم ژرنده کړه بنده
د زړۀ وینه د مز اوګے مې راوړی په جولو ده

د زړګی دشت ته مې ګوره چې نظر پکښې تت کېږی
دغه خړلوګی او دوړه د سائر د اسوېلو ده

چرته چې هم څمه نو راغلے دے
ليت راپسې ستا غم لګولے دے

ګوره چې نرې نرې تيغې کوي
تا مې د زړۀ دشت کښې غم کرلے دے

اوس هم مخامخ درکتے نۀ شمه
چا وې ستا د حسن دوران تلے دے

تا به وو ليدلے د رقيب جواب
دا مې ستا خاطر اشنا ساتلے دے

دا ئې د بخت ستورے دے چې ګرځی لا
تا ساٸر د خپل حقه وژلے دے

Pukhto.Net

# نـــــاکـــــــړدی

زۀ ناست وومـه تنهـا ستـا نـاکړدی مـې شـمارولې
وعـــدو بـــه دې پـــه مـــخ رالـــه ســـپېړې راکـــولې

د فکر جاروګۍ مې وه راخستې ورتـه ناست ووم
وانـې د ارمـان مـې پـه راشـپېل کښـې بـادولې

خبـر نـۀ ووم اشـنا چـې تـۀ د نیمـې لارې مـل وې
پــه خوشـــو امېـــدونو مـــې لیتـــې غلبیلـــولې

ګیلـه د چـا نـه وکـړم چـې د ځـان سـره مـې وکـړه
غـومبکې ستـا د حسـن چـې مـې ځـان تـه پـارولې

تـا چې وعـدې کـولې سـپوږمۍ ګواه وه پکښې
صــحرا خــاموش وه مګــر رڼــا رڼــا وه پکښـــې

څــه د نختــرو ســیوری څــه د کیکــرو ســیوری
جانانـه سـتا کـه یـاد شـی نـری هـوا وه پکښـې

تـا چې پـه نـۀ خبره باندې ګیلې جوړې کـړې
هغــه د مینـــې مینـــې څـــه انتهـــا وه پکښـــې

مـا چـې بـه تـا تـه وکـړې سـتا د قصـور خبـرې
د متیزتوبـه اوښـکې ټولـه غـلا غـلا وه پکښـې

ســـائر چـې کلـه کښـېنم زۀ سـتا د یـاد پـه څلی
لتـې لتـې ژونـدون وی زمـا سـزا وه پکښـې

Pukhto.Net
پښتو

## قطعه

مدام په تا مې د خپل ورور په شان باور کړے دے
جانانه تا په هر اختر ما سره شر کړے دے

څلورم کال دے د شهید انس په غم ژاړمه
ما په قبرونو تا په کلی کښې اختر کړے دے

# اختر

چې مې شهيد بچے رايـاد شي اختر څنګه وکړم
زۀ ئې جامو پېزار بستې ته نظر څنګه وکړم

چې مې د خوږ زړګی درمان وو نو په خاورو کښې دے
بې د درمانه به پټې په پرهر څنګه وکړم

ما به د ګوتې نه نيولے ګرځېدو به دواړه
تن تنها به په دې چم کښې ګزر څنګه وکړم

چې د کوټې د سر ځارله به مو مياشت د اختر
چې مې رايـاد شي تماشه به په غر څنګه وکړم

خفه خفه ئې دواړه روڼه دی په کور کښې زهير
دا ژوبل ژوبل تماشه د اظهر څنګه وکړم

ملګريه مۀ چيړه بې وجې د سائر زخمونه
ناسور به جوړ شي تماشه د پرهر څنګه وکړم

راتلـــې بـــه زمـــا خوالـــه تـــهٔ اکثـــر پـــه نیمـــه شـــپه
نیـــوو چـــې بـــه مـــا ســـتا د زلفـــو غـــر پـــه نیمـــه شـــپه

ډیوې دی کـه دې اوښکې سپینو سترګو کښې غړېږی
نـــا اشـــنا غونـــدې ښـــکارېږی دا منظـــر پـــه نیمـــه شـــپه
جانانـه تنهـائۍ کښـې مـا لـه هغـه وخـت کښـې راشـه
چـــې شـــور کلـــه شـــروع کـــړی ســـمندر پـــه نیمـــه شـــپه
چې تـا تـرې کـډه کـړی د بنګړو شړنګ پکښـې نهٔ اورم
خاموش خاموش چې پروت دے ځړ خیبر په نیمه شپه
ګلونـو پـه چمـن کښـې پـه ځـان پـانې راخـورې کـړې
چـــې راغـــے د خوبـــانو معتبـــر پـــه نیمـــه شـــپه
دا ســـتا د مـــخ خالونـــه اننګـــو دپاســـه ښـــکاری
غمـــی کـــه پـــه امیـــل ایښـــی زرګـــر پـــه نیمـــه شـــپه

دا زهٔ سائر بـــه څـــو د بلـــو ســـیورو تـــه پټېـــږم
خـــو بـــس کـــه را پـــه ســـر کـــه تـــور څـــادر پـــه نیمـــه شـــپه

یــار ژړوم ورلــه احســاس د جــدايي ورکــووم
دغــه بــدل ورلــه د خپلــې رســوايي ورکــووم

دا چې بکرې ټکؤمه په تور تم کښې ناست يم
دا بــې وفــا اشــنا لــه ليــت د تنهــايي ورکــووم

کلــه چــې زۀ د تصــور کشــتۍ تــه وخېژمــه
د جانــان ســترګو لــه رانجــه پــه ســلائي ورکــووم

زۀ ساٸر ځنې چــوتې کومــه د پښــتو د غــزل
تېــل د ښائســت ورلــه پــه ډېــره صــفايي ورکــووم

یـا مـې سـتی سـتی پـه اور کـړه کنـه
یـا خـو مـې خـوږ زړګـے ټکـور کـړه کنـه

د یــاد ډیــوه مــې د زړۀ کــور تــه راوړه
لـږ مـې روښـانه د زړۀ کـور کـړه کنـه
کعبــه د زړۀ بــه مــې رنګونــه راوړی
غــلاف د زلفــو پــرې راخــورکړه کنــه
نغمــه د مینــې اوریــدل کــه غــواړې
بیـا د سـینې ربـاب مـې سـور کـړه کنـه
رانجـه رانجـه سـکاره ارمـان مـې یوسـه
د خپـل جبین خـالګے پرې تـور کـړه کنـه
د اختر میاشت پورتـه پـه غـر ښـکاره شـه
اختـر اختـر شـه او شـور شـور کـړه کنـه
دا نـاکړدی وکـړه چـې نـوم دې وشـی
مـا پـه ژونـدون مـړے د ګـورکړه کنـه

زۀ ساثر ناسـت پـه انتظـار کښـې یمـه
لـږ دې راتلـه زمـا پـه لـور کـړه کنـه

سپرلے دے رنګینی دی او بیا هغسې موسم دے
د یادو سلسلې دی زما زړهٔ قلم دے

تېر وختونه څنګه راشی اخترونه څنګه راشی
بهلول د زمانې یم خو په دې مې عقل خم دے

لړی لړی مې اوښکې د سرو سترګو دی روانې
ختمېږی نه را څاڅی زما سترګو کښې زم زم دے

سپرلو دی غوړولی په شنو دشتو څادرونه
د چا لاس کښې نرګس د چا په لاسو کښې شړشم دے

Pukhto.Net
پښتو

د زړهٔ نه دې ویستی شم نهٔ دې کلی ته درتلے شم
زاره چاودی ستا کوځې دی ستا په غم لړلے چم دے

خیالونه ارمانونه ترینه ګېر چاپېره ګرځی
اشنا ستا په فکرونو مې اباد د زړهٔ حرم دے

تهٔ چې وائې ما **ساثر** ته غېږ د زلفو مې چاپېر کړه
ستا د زلفو خامارانو کامل دم راسره کم دے

دا لاڅنګه زندګی ده څه لتهې لتهې ژوندون دے
چې تیارې مې دی په سترګو دا لاڅنګه سباؤن دے

ستا د ګل ځوانۍ تلاش کښې دواړه پښې مې شوې تنها کې
په ازغو کښې کوړ و کړ شوم هر یو باغ کښې مې لتهون دے

د راتلو په انتظار کښې ستا د یاد ډیوې بلیږی
هر یو اه مې د ارمان دے په سلګو مې زړۀ چاودون دے

زۀ به څو په سرو غرمو کښې د وعدو سیوری دې ګورم
د هجران غرمو ستی کړم زما حال ځکه زبون دے

که دې سل کاله سزا وے زۀ **ساٸر** پرې ووم خوشحاله
زۀ دې تهول عمر سزا کړم ستا د مینې څنګ قانون دے

زمــا د اوښــکو د ســیلابه هــم غورشــل جــوړيږي
ستــا پــه واورینــو اننګــو چــې کلــه ول جــوړيږي

څه لـه کوڅـه کښـې بنجاریـان دې ودروې رانجوتـه
زمـا چـې هـر یـو ارمـان سوزی تـرې کجـل جوړيږي

زۀ شـاعر نـۀ یم نـۀ مـې شـوق د شـاعرۍ کـړے د ے
سـتـا ادا ګـانو تـه چـې ګـورم تـرې غـزل جـوړيږي

تـا ائینـه کښـې چرتـه زور د خپـل ښائسـت لیـدلے
خود بـه حیران شې څه کـانې دې پـه اوربـل جوړيږي

تـا کـه ګلشـن کښـې وی لیـدلی د ګلونـو څـانګې
نازکـه یـاره سـتـا تصـویر تـرې مکمـل جـوړيږي

دا دې نـرۍ شـونډې زمـا نـامې تـه جـوړې کړلـې
یـا کـه غـوټۍ پـاڼې راسپړی تـرې نـه ګـل جـوړيږي

په مـا ساګر دې خاورې بار کـړې بې پـروا تـرې لاړې
یـو ورځ بـه تـا لـه هـم د خـاورو دا ډوغـل جـوړيږي

جفـا کبـاړ دے او وفـا پـه شوکېـسونو کښې ده
خـالی لاسـونه د زرګـر دکـان تـه څنـګ لاړ شـمه

تـهٔ کـه هـر څـو د خپـل ستم چـړې پـه تـا قومړې
قسـم پـه خـدائے کـه دې د دره وس پـه څنـګ لاړ شـمه

Pukhto.Net
پښتو

**يو شعر**

د اختر څو چې خوشحالۍ دی اشنا ستا سره دی
تهٔ به ترې ماله خوشحالی راوړې که درشم پسې

څنـګ دې يادونـه زۀ بهـر د زړۀ نـه اوباسـمه
دغـه تـوبرې پـه څـه هنـر د زړۀ نـه اوباسـمه

لاپرې خخېګی چې کوشش ئې د ويستلو کؤم
څنګـه لالیـه دا خنجـر د زړۀ نـه اوباسـمه

زمـا د زړۀ د کـور ئـې تولـه پټـواری کـړی ده
اوس بـه ئـې څنګـه د دوتـر د زړۀ نـه اوباسـمه

غـم نـه ، غمونـه مې زړګی پـه تـه ترنګـړو راوړی
تـن تنهـا څنـګ دا لښـکر د زړۀ نـه اوباسـمه

ساثر حېران يم چې پـه څـه چل او پـه څـه تجربـه
سـتا د يـادونو كـوډ نمبـر د زړۀ نـه اوباسـمه

راشه چې غمونه دې بیا مې په زړۀ پنډ نۀ شي
جوړ چې ستا د یاد نه مې کور د زړۀ غوېمنډ نۀ شي

تول به کړی خروب اشنا دا د پښتو نخوا کلي
دا لختي د اوښکو مې بیا په ګرېوان ډنډ نۀ شي

بار د تهمتونو دې څومره نور درنېږی لا
یاره جوړ ترې بیا ګورې غر د ملاکنډ نۀ شي

داد فراق لوړ چنار څنګه به ارتاؤ کړمه
څو چې د وصال تبر خخ ئې په جغنډ نۀ شي

طمع د وصال مې ده واورو کښې درتګ کوؤم
یاره که خطا رانه ستا د قدم منډ نۀ شي

دا د زړۀ پرهر به مې خدائیګو که پېوند واخلي
څو چې ستا د زلفو تار بند په بند پرې ګنډ نۀ شي

راکړه د خپل شال سره ما له د سر سپین څادر
دا کفن د شال چې دې بیا په سائر لنډ نۀ شي

Pukhto.Net پښتو

## قطعه

چې الله غم راباندې راوستو هوښيار ئې کړمه
زۀ خو ساده ووم ما خو خپل او پردی نۀ پيژندل

چا چې په سر راله راپنډ کړه احسانونه پنډان
د چا د لاسه مې درانه غمونه وپيژندل

Pukhto.Net
پښتو

## يو شعر

زما د اوښکو قافلو چې خړوب نۀ کړو وطن
دا ورته ستا د شهادت بندونو لار بنده کړه

## د خپل معصوم زوی انس شهید په نوم

تهٔ شهید شوې په خندا جنت ته لاړې
خو د غم پيټي دې زهٔ په زړهٔ تنها وړم

ستا د ياد د هر بتکي او ديوال لور ته
کتے نهٔ شم مدام سترګې په ژړا وړم

# د انس شهید په نوم*

د زړۀ سره سرو ګلونو ته مې راوړې
د سوات ښکلو ښکلو غرونو ته مې راوړې

کاش په سترګو باندې تۀ لیدلے نۀ شې
خپلې خاورې او سیندونو ته مې راوړې

بې له تا کلی کښې شپه ورځ نا قرار ووم
د حسرت د زړۀ باغونو ته مې راوړې

ښکلا ګانې د وطن دې نصیب نۀ شوې
څه که زر قسمه رنګونو ته مې راوړې

ما خو بوتے د امید د باغ ګنڼلې
خو ناکامه حسرتونو ته مې راوړې

هر اشنا ته دي په خپله ګويا نۀ شوې
د يارانو محفلونو ته مې راوړې

څه خبر ئې چې په زړۀ مې څه تېرېږي
د قصاب چړې رګونو ته مې راوړې

نغمه زن مې د ژړګي په کور کښې نۀ شوې
څه که هر قسم سازونو ته مې راوړې

تا مې کور د زړۀ په توره تياره پرېښوو
که شوګيرې د کور ګوټونو ته مې راوړې

د سائر د زړۀ د زخم دوا نۀ شوې
که خوږلنه پرهرونو ته مې راوړې

* د خپل ماشوم بچي ګران انس شهيد په نوم چې امانتامو په چکدره کښې سپارلے وو او بيا مو درې مياشتې پس د خپل کلي قبرستان ته راوړو.

# د سوات د اپریشن نه وروستو *

تهٔ پکښې نهٔ ئې زهٔ به ستا کلی ته څنګ لاړ شمه
خاموش خاموش تنها تنها کلی ته څنګ لاړ شمه

زهٔ ستا د یادو کوم بُتکی نه سترګې واړوم
په پټهو سترګو دې اشنا کلی ته څنګ لاړ شمه

څنګ دې ماشومې اداګانې د زړهٔ اوباسمه
کړم لیونے ئې په خندا کلی ته څنګ لاړ شمه

ماته غمونه ئې راپنډ کړلو دے لاړ په مخه
زهٔ به د داسې بې پروا کلی ته څنګ لاړ شمه

تهٔ چې زما مرور تللې د عقبا په لورې
دا زهٔ سائر به بې لتا کلی ته څنګ لاړ شمه

* کله چې مونږ سواتیانو ته د اپریشن راه راست نه وروستو کلی ته د تلو اجازت اوشو نو په هغه وخت کښې په خپل شهید انس بچی پسې.

# قطعه

کلونه تېر شو جانان خاورې شو خو زۀ لېونے
چې زنځير ټک وکړی اکثر کوڅې ته منډه کړمه

خدايه چې چا رانه په نيمه لار جدا کړو جانان
سائر اخر زۀ د کوم در کوڅې ته منډه کړمه

خدایه په کوڅه مې اختر راولې
خوا له مې اشنا مرور راولې

ختمې سپینې اوښکې کړې د ګلو نه
تېزې پلوشې پرې د نمر راولې

ربي چې ارمان مې د ستم په لور
تۀ ئې په کورونو محشر راولې

Pukhto.Net

وچه مې مرئ د فراق تندې کړه
ماله کبرژنه دلبر راولې

نۀ به یم د غږ درته دلبره زۀ
بیا که مې جرګې په قبر راولې

یا زما سائر ارمان پوره کړې ته
یا مې ترې خالقه صبر راولې

# د وړوکي اختر ورځ

چې ستا د وصل مازيګر نه نا اشنا شوے وومه
ستا په فراق کښې د سحر نه نا اشنا شوے وومه

نازکې پښې په څو قدمه مې تنها کې شولې
ستا د الفت د لوئے سفر نه اشنا شوے وومه

لکه د ړوند لختـه په لاس به دروازې مې کتے
زۀ چې هم کله ستا د در نه نا اشنا شوے وومه

څو کاله پس د بل په خُله مبارکي دې راکړه
مودې شوې تېرې د اختر نه نا اشنا شوے وومه

ما چې نيول به منګري ستا د خورو زلفانو
نن ئې تښک راکړو د هنر نه نا اشنا شوے وومه

ما ساټر ځکه اسويلي ورته په زوره وکړل
ستا په مخ خال د تور انځر نه نا اشنا شوے وومه

# د تېرو يادو يوه زړه خبره د نظم په ډول

څو به دې ياد کړم د ځوانۍ وختونه
بلې ډيوې ته زړۀ نيولے نۀ شم
د منډو ترړو نادانۍ وختونه
زۀ په هيڅ حال د زړۀ ويستلے نۀ شم

زمونږ د کلي هغه شاړې کوڅې
چې د وفا او خلوص ډکې به وې
څه عجيبه وې عجيبه غونډې وې
ډکې د سرو ګلونو ډکې به وې
کوم سلامي دې د هر ياد بُتکی ته
يوه لمحه ئې هېرولے نۀ شم

د منـــډو تـــرړو نـــادانۍ وختونـــه
زۀ پـه هـيـڅ حـال د زړۀ ويسـتلے نۀ شـم

هغـــه د لـــوئے مقبـــرې پـــه لاره
پـــه مابنـــامی د انتظـــار وختونـــه
چرته په خيال کښې دې راځی او کنـه
پـه شـنو دشـتونو او ګلـزار وختونـه
چې ورتـه ګورمـه نـو غريـو مـې نيسـی
سـتـا د لاس نخښـی ګرځـولې نـۀ شـم

د منـــډو تـــرړو نـــادانۍ وختونـــه
زۀ پـه هـيـڅ حـال د زړۀ ويسـتلے نۀ شـم

زمـــونږ د کلـــی پـــه وړه ډېرکـــۍ
د پلوســـۍ د ونـــې ګـــور ســـيوری تـــه
چې زمـا سـتا غرمـه بـه هلتـه کښې وه
ستا په وعدو د خپل قصور سيوری ته
زۀ اخـــر کومـــه دې رايـــاده کړمـــه
نـور دې کچــه وعــدې ژړلــے نــۀ شــم

د منډو تررو ناداني وختونه
زۀ په هيڅ حال د زړۀ ويستلے نه شم

هغه د بري ډنډې خوا ياده کړه
لکه ململ چې شين کبل ولاړ وو
خپله نرۍ نرۍ خندا ياده کړه
چې د ريدی پکښې يو ګل ولاړ وو
ستا د الفت هره غمژنه قيصه
نورې قيصې دې يادولے نۀ شم

د منډو تررو ناداني وختونه
زۀ په هيڅ حال د زړۀ ويستلے نۀ شم

د کلي بيرته د شپېدانو مېره*
وتې مې لا د قدمونو نۀ ده
د نهر خوا کښې هغه لوړه پوله
نخښه مې دا د حسرتونو نۀ ده
پربېږده چې ډنډ مې په ګرېوان پاتې شی
لختي د اوښکو بهېولے نۀ شم

د منــــډو تــــرړو نــــادانۍ وختونـــــه
زۀ پــه هــيڅ حــال د زړۀ ويســتلے نـۀ شــم

ســـائر کبـل کښـې دې تنهـا پـاتې کـړم
د ښــار پــه دوړو کښـــې اوسـيږې لــرې
زمــا د حــال څــه خبـر هـډو نـۀ اخلــې
پـــه غېـــرو غېـــرو راوريـــږې لـــرې
زۀ دې ســتومانه پــه ژونــدون کــړم اشــنا
خــو پــه ژونـدونې ګـور تــه تللے نـۀ شــم

د منــــډو تــــرړو نــــادانۍ وختونـــــه
زۀ پــه هــيڅ حــال د زړۀ ويســتلے نـۀ شــم

* زمونږ د کلی مېره

ستــــا د زړو زړو يـــادونو يــو خـــوږه خبـــره
ګرانــه نــن هســـې مــې پــه زړۀ راوربــده خبــره

مـا نـن ملګـرو تـه وې داسـې بـه جانـان تـه وايـم
خـو سـتا د سـامه مـې پـه شـونډو رپېـده خبـره

زۀ د درتلــو پــه اراده ووم خــو ناڅاپــه اشـــنا
پښــتو وه مخکښـې راتـه نېغـه ودرېـده خبـره

د ګيلو پنډ مې راسپړدو خو لنډه لار وه اشـنا
خدائيګو که زړۀ کښې زما نوره ځائيـده خبـره

ما ساثر سر اشنا د فکره پـه زنګون ايښے وو
لــړې لــړې مــې پــه ګرېــوان رارســېده خبــره

دپاهي مالګي ستا د لاسه په پرهر کښې ږدمه
اوس به په څه سترګو قدم زۀ ستا په در کښې ږدمه

ښۀ پرې پوهېږم چې يو ګل د وفا نۀ ټوکوی
بس د بيکانې قلمونه په انځر کښې ږدمه

زۀ به په خيال خاطر اشنا درته راځم او کنه
ستا د يادونو بتان زۀ د زړۀ مندر کښې ږدمه

د قسمت پېرې مې کوټه دی ښه پوهېږمه پرې
څه که لاسونه بيا په لاسو د فالګر کښې ږدمه

خدايه په هيڅ نۀ رضا کېږی ساٸر څۀ وکړمه
سر و مال دواړه که په غېږه د دلبر کښې ږدمه

يو تلوسه ده او يو فکر بې ارامه مې زړۀ
تۀ د نظر د غشو اوکاږه د فامه مې زړۀ

زۀ ئې په کوم اړخ کښې پټ کړم راته اوښايه چل
ستا نه په پټه خطا نه ځی هم د بامه مې زړۀ

د الهامی راتلو اشنا به درته څه اووايم
خدائيګو سينه کښې چې درزېږی ستا د سامه مې زړۀ

ما ته پولې د غنو هر ځائے کښې په لارو کښې ږدی
په دې سبب ځکه خفه دے ستا د قامه مې زړۀ

دې تصور کښې ما سائر خو خپل دماغ وخوړو
څنګ به صبرېږی ستا د سرو شونډو د جامه مې زړۀ

Pukhto.Net پښتو

تهٔ چې خندېږې ژړا نوره کؤم
درته خېرې په سر سر توره کؤم

لکه خلیل په زړهٔ کښې مینه ساتم
څنګه به ویره د سور اوره کؤم

پښتو ده اه د خلې ویستلې نهٔ شم
بس اسویلی په زوره زوره کؤم

ما پسې قبر ته ستا یاد رانهٔ شی
ویره سائر ځکه د ګوره کؤم

چې نشه ستا د وصال زما د سر نه وتې نۀ ده
لاچاره ستا د ستم مې د ځيګر نه وتې نۀ ده

لاس نيوې دی چار چاپېره بس دعا ته لاس چوتيږی
جنازۀ د مړ ارمان مې ستا د درنه وتې نۀ ده

اراده مې د ناکامه کوششونو په لور کړی
د شرطونو کښې وړاندې مې د غر نه وتې نۀ ده

پټ په پټه مې ګوګل کښې د زخمونو شمېرې نشته
خبر که وينه مې په ډاګه د پرهر نه وتې نۀ ده

په فراق کښې دې جانانه د **سائر** څلورم کال دے
د ژوندون هره لمحه ئې د مجمر نه وتې نۀ ده

دې خـړو کوڅـو تـه دې د سـره اختـر را نـۀ شـی
خـوا لـه چـې زمـا پکښـې اشـنا مـرور را نـۀ شـی

نـۀ وی چـې جوته پکښـې د يـار د ګلابـی شـونډو
مالـه دې پـه دغـه مېکـدو کښـې نمبـر را نـۀ شـی

زړۀ مـې پـه ګوګـل دننـه پـټ پـه پټـه وسـېزۀ
يـاره خـړ لـوګې مـې د زړګـی نـه بهـر را نـۀ شـی

اوخوروه زړۀ مې ما په تخت د قصاب ايښـے د ے
يـاره د سـتم مارغـان دې کـور تـه نهـر رانـۀ شـی

وينـم بـه هـلال زۀ سـتا د حسـن پـه اسـمان مګـر
چرتـه چـې تيـارې پـرې سـتا د زلفـو د غـر رانـۀ شـی

خخ چې مې اغيار کړی د لحد په تورو خاورو کښې
بيـا دې يـار بـې ننـګ هـډو زمـا پـه قبـر را نـۀ شـی

څـه بـه وی سـائره مـازيګر د انتظـار فائـده
پيغلـې چـې سـيلونه پـه طـرف د ګـودر رانـۀ شـی


Pukhto.Net

د کلونو نه اوږده شوه شپه تاؤګېره د هجران ده
په لټون د چا د غېږه کښې سلګۍ مې د ارمان ده

د خیالونو ښاپېرۍ مې په جامو کښې نه ځائیږی
دا ښکالو چې غلی غلی ستا د وصل د باران ده

زنځیرونه د وصال مې ستا د غم ازمرو پرېکړل
په پنجره کښې د اُمېد مې د زړګی غوښه تالان ده

تۀ پلکونو د ستم ته دې په لاسو لاړې توکه
حوصله اوسپنه سره مې درته ایښی په سندان ده

په ناکامه حسرتونو په هر لور کانړی وریږی
زۀ خوشحاله یم په دی چې پېرزوئینه د جانان ده

زۀ چې کوم محفل ته لاړ شم په ادب خلق راپاڅی
کاش چې تا ته ساثر ولې نن خذله د ډېران ده

څــه رنګــې قــلار بــه اشــنا ســتا د تصــوره شــم
چغې چې د ځُلې مې شي بې واکه نو مجبوره شم

مالکه د پالې په شان سور کړی په سکروټو کښې
کله د لوهار بټۍ کښې خلاص به د همبوره شم

ښکليه د غرور اسمان چې کله دې بريښنا وکړي
زۀ لکه وريځ ستا د ښائست په اسمان ګوره شم

تۀ راته هر وختې شګې نولې چې په سترګو کښې
خود به د ليدو نه ستمګره ستا معذوره شم

مــا تــه مخــامخ زمــا خطــا پــه ګوتــه وښــايه
زۀ ســـائر قــلار بــه خامخــا د خپــل قصــوره شــم

څـه شـولو د رنـځ طبیـب مـې چرتـه د ے
سـیورے سـیورے بیـا زمـا نظـر تـه د ے

څیــره لګیــدلی پــرې نمــر مخیــه ســتا
تــاؤ رارسســیدلے مــې ځیګــر تــه د ے

کړو پکښې فرهاد خـاورې ایرې ژوندون
نــن مــې فکــر تلــے هغــه غــر تــه د ے

خــدائے خبــر پــه کومــه ډډه راشــی غــم
اُول مــــې ارم کــــړے د زړۀ ور تــــه د ے

هســې مــې د زړۀ دلیــل غلــط شــو پــرې
کلــــه ګویــــا شــــوے بــــت اذر تــــه د ے

نــه منــی منــت او نــه جرګــې اوښــکې
ډیــر کــه ســوال منــت زمــا دلبــر تــه د ے

تــــا چــــې د خپــــل دره راشــــړلے د ے
کلــــه ســــائر تلــــے د بــــل در تــــه د ے

زما د مینې قیصه دومره مختصره نهٔ ده
لامې د زړهٔ وتې اشنا هغه خبره نهٔ ده

تهٔ که طناب د زلفو راکړې تنده ماته به کړم
د لاروی کوهی اوبه دومره جوره نهٔ ده
لکه فرهاد د کوششونو سلسلو کښې یمه
ستا د شرطونو کشۍ پسه لاد غره نهٔ ده
ستا د بېلتون سختې زغملے شم دا خیال وَ نهٔ کړې
د فراق غنو کښې جامه مې لا دُوتره نهٔ ده
د بدنامۍ خبر مې خور په ګنګوسې غوندې دے
ستا د تهمت جنډه مې ختې لا په بره نهٔ ده
هر یو ګذار دې رسا لګی د زړهٔ تل کښې زما
څه شو که وینه مې راوتې د پرهره نهٔ ده
زما جونګړه کښې د پت او د پښتو نخښې دی
څنګ مې جونګړه ستا په دنګه ماڼۍ غوره نهٔ ده

زما سائر چې کله تلله جنازهٔ د ارمان
تا ئې د ورایه تماشه کړې د سره نهٔ ده

## دوه شعرونه

غــم دې لټــون کــوی زمــا پــه زړۀ د نــوی زخــم
لکه ورغومے چې په شپول کښې تنکۍ پانړه ګوری

یــا لکــه ورشــی د مرغــو ســیل د ارمــان پــه درمــن
د ډیــرې لــوږې ځیتــوکۍ خپلــې لــه وانــه* ګــوری

* په درمن کښې ماتې پاتې دانې

Pukhto.Net
پښتو

## دوه شعرونه

بیــا بـــه دې راتلــــه هســـې بـــې کـــاره وی
نمـــر چـــې پـــه مغـــرب کښـــې ځیـــره اووهـــی

پـــه ســـپین مـــخ دې تـــور خالونـــه دی ځلیـــږی
کـــه حـــبش ناســـت دی پـــه واورو د کـــالام کښـــې

چې مې نۀ اوځې د خیالـه دا څۀ چل دے
هر یو خیال مې ستا د یادو سره مـل دے

لکــه ګتــه چــې نــۀ اوری او نــۀ وینــی
داسې ړوند کوڼ سرا سر زمـا ګوګل دے

هر ارمان مې پکښې وار په وار قتلیږی
دا کوڅـه ده سـتـا دلبـره کـه مقتـل دے

تـذکرې پکښــې د مینــې زمــا ســتـا دی
تـۀ لـږ راشـه عجیبـه غونـدې محفـل دے

دم پــه دم دې ګــل وریــن حســن زیــاتیږی
ســتـا ســـاثر لیــونے څکــه د ځنګــل دے

Pukhto.Net
پښتو

# زۀ په کومه لاره لاړ شم

زۀ په کومه لاره لاړ شم چې ستا یاد رانه په څنګ شی
په صحرا کښې هم لا لیه ستا د خیال راسره جنګ شی

ستا په خيال کښې که جانانه په پولو د غنو کښېنم
دومره زۀ شمه بې خوده مارکونډۍ راته پالنګ شي

لوړ چنار د حوصلې به مې زخمي قدرې هم نۀ کړي
که هر څو دې جفا کاره د ستم اره کښې ونګ شي

د نظر خنجر دې اوباسه زما د زړۀ پرهر نه
هسې نه چې ستمګره تېزابي څوکه ئې زنګ شي

نۀ صبرېږي نادان زړۀ مې هم پښتو ده درتلے نۀ شم
څوکه مينه پښتنه مې په سينه کښې په غورځنګ شي

تۀ که هر څومره ستم کړې خو زما دغه دعا ده
د هما د سيورې جخت دې په تا سيورے د لونګ شي

تۀ اوسېږې مې په زړۀ کښې ستا په کور د زړۀ کښې نۀ يم
ما **سائر** ته قبول څنګه ستا په مينه کښې قلنګ شي

Pukhto.Net
پښتو

دا مـې د ژونـدون د ے شپا ړسـم اختـر
دا ځـل مـې هـم راغـے پـه مـاتم اختـر

تـا کـړې بلـې شـمعې پـه نکریـزو کښـې
زۀ بـــه تېرؤمـــه پـــه تـــورتم اختـــر

مرګ لـه مې چړې وړې پـه لوهـار پسـې
څنګ به اخر تېر کړم ستا په چم اختر

کـړه مـې مـری، وچـه د فـراق تنـدې
نـۀ تېریـږی ګـوټ زمـا زوقـم اختـر

راغلـې کـه مـې درتـه پـه زړو سـترګو
مـا سـائر تـه شـی بـه محـرم اختـر

ځه د جانان غمه د وتو لټون کوه
کوشېږ ته زما زړۀ له د رتو لټون کوه

په لارو کګلېچونو د وفا لارې تلاش کړه
د مېنې لېونیه په لیتکو لټون کوه

دانې د ارمان ډېرې خامخا به په لاس درشي
زما د زړۀ پټې کښې د شتو لټون کوه

د عشق په سمندر کښې چې لامبو وهلے نۀ شې
ګرداب کښې راګېر نۀ شې د ختو لټون کوه

ماښې زما د مینې په شغلو کښې لګړه نۀ کړې
نمرمخیه په مغرب د پرېوتو لټون کوه

خخ چې دې ساثر کړمه د غم تورو تیارو کښې
لحد له مې بیا راشه د تختو لټون کوه

Pukhto.Net

په هر څه پوهه خو د ګل په ژبه نۀ پوهېږم
کانې چې ولې د پاګل په ژبه نۀ پوهېږم

په صفايي کښې د لاسونو چې جيبونه لوټي
قسم دے زۀ د هغې غل په ژبه نۀ پوهېږم

ناري ئې اورم خو جواب ئې ورکولے نۀ شم
دومره نادان يم د بلبل په ژبه نۀ پوهېږم

چې په خندا کښې جوړوي په اننګي ګلونه
ما مړ کوي د دغه ول په ژبه نۀ پوهېږم

منم **ساڅر** چې په نامه باندې ټول سوات ياديږي
خو په کبل کښې د کبل په ژبه نۀ پوهېږم

لکـــه بخـــری چـــې اوچـــت د اور لمبـــه کـبنـــې راځـــی
داسـې دې غـم مـا لـه اشـنا هـره شـيبه كبنـې راځـی

ستا د وصـال كـه د زړۀ كـور كبنـې ذخيـره جـوړه كـړم
د غـــم ســپكۍ د اميـــدونو پـــه خمبـــه كبنـــې راځـــی

كـه ئـې د مينـې دروازې مـاهر تركـاڼ لـه يوسـم
خو د خدائے كار دے هميش تاؤ ئې په تمبه كبنې راځی

كـــه مشـــورې د زمـــانې د ســـكندر نـــه واخلـــم
خـو څـه خلـل مـې پـه ناكامـه منصـوبه كبنـې راځـی

د خيـال نانـداف لـه كـه د خپلـې چمبـې مـزی وركـړم
خـو مـا سـائر تـه شـو كېـدلی پـه پومبـه كبنـې راځـی

اوس د افسوس چغې و همه د فریاده سره
ځان غلے غلے مشغولومه ستا د یاده سره

ما ته په هره لار پرتې وې لومې ستا د زلفو
ځکه راګیر شوم ستا د غم د هر صیاده سره

زما د زړۀ په کور کښې ځکه زلزله جوړه ده
ستا د ستم ښکرې اړم دی د بنیاده سره

استوګنه څنګ ورله د زړۀ په کورکی کښې ورکړم
چې ستا دغم کوړمه راغلی د زوزاده سره

زما سائر شی ژبه تته حال بدل شی زما
چې مخامخ شم ستا د حسن د جلاده سره

ستا نا سازي هم زما د زړۀ تسکین دے
زما مرګ له د خال ایخے په جبین دے

ستا په در کښې چې پخوا وژلے شوے
نن په در کښې مې د هغې ارمان تلین دے

ستا خالونه اسرائیل جورمې جورمې شو
نړېدونکے د خوږ زړۀ مې فلسطین دے

ځان تري بچ ساته دلبر چې راغلے
را ډک شوے مې د اوښکو اباسین دے

د ویشتلی مرغۍ حق اوچتېدل وی
ستا د مینې سرا سر غلط ائین دے

زۀ وایم نۀ شم ته وے صبر شه ناصحه
بې بنیاده دي ددې لفظ تلقین دے

نور به ستا په لباسی خندا هېچرې نه غولیږی
ستا **ساقر** لیونے نۀ دے لاذهین دے

# بلبل د محبت لاړ شو

زمـا د زړهٔ پـه کـور کـه څـو دې بادشـاهی کولـه
هـم بـه زمـا د مـال و جـان دې تبـاهی کولـه
ښـهٔ شـوه د زړهٔ دکـوره سـتا مـې حکومـت لاړ شـو
د زړهٔ د بـاغ نـه مـې بلبـل د محبـت لاړ شـو

تـا پـه هـر ځـائے کښـې بـه زمـا غـريب تـوهين کولـو
سـتا پـه ناسـازو بانـدې مـا د زړهٔ تسـکين کولـو
بـې ننګـه يـاره سـتا د مينـې حقيقـت لاړ شـو
سـتا نـه زمـا د مينـې ځکـه برکـت لاړ شـو

بې ځيـره پاتې شوې د خيـال پـه ائينـه کښـې ګـوره
ځـان تـه زمـا د ترمـو اوښـکو پـه چينـه کښـې ګـوره
اوس د جامې نه مې ستا رنګ چې د تهمت لاړ شو
زمـا د ژونـد نـه خـراب حـال د ذلالـت لاړ شـو

د خيال باز ګوتې ستا په غم کښې مې رفتار کولو
ستا د راتلو لارې ته ډېر ئې انتظار کولو
خطا دې نه کړو د نظر نه دې اوچت لاړ شو
ښه شوه چې مړ شو د خوږ زړۀ ئې اذيت لاړ شو

ډېر زيات مشکور يمه اشنا چې مې په خيال کښې نه ئې
زما اشنا په مستقبل او هم په حال کښې نه ئې
اوس مې د خيال د وسوسو نه بغاوت لاړ شو
د بې هوده سوچونو هر يو قباحت لاړ شو

په تا کښې نخښې د وفا چرته ځرګندې نه شوے
ټپې زما په مخ د اوښکو ځکه کندې نه شوے
هر يو ارمان مې په سرو وينو کښې لت پت لاړ شو
بې ننګه وائې د دنيا نه صداقت لاړ شو

زما د ژوند د سکونت لاره کښې را چې نۀ شې
درته منت کومه بيا زما اشنا چې نۀ شې
زما سائر د زړۀ د دشت نه په منت لاړ شو
نا ترسه غم ترې اشنا ستا په دې ساعت لاړ شو

ما چې رټې زۀ د هغې جانان ملګرے يمه
د خپل نيمګړی نيمه خوا ارمان ملګرے يمه

چې د وفا ګل تۀ کوی زما د زړۀ په بېديا
زۀ هم ورېږم د هغې باران ملګرے يمه

Pukhto.Net
پښتو

چې ستا ديدن لره درځي تګ په تلوارې کوی
زۀ هم درځمه د هغې کاروان ملګرے يمه

چې د لوهار بټۍ کښې پروت خوند د لمبو نه اخلي
د ستم پلک زغمی په صبر د هغې سندان ملګرے يمه

چې ستا د وروځو محرابونه ئې بلوسېږی په ناپاکه جوسه
زۀ سائر ځکه د هغې بګوان ملګرے يمه

هر وخت مې په زړۀ کښې په سندرې ده
څـــو کـــه د نظـــره زمـــا لـــرې ده

واخلی مې د تن نه په چل ول کښې زړۀ
دومـــــره تجربـــــه د جـــــادوګرې ده

مـا تـه چې ئې بېم د خيـال پـاړو وهـی
بيـــا کـــه څـــه حملـــه د مـــازيګرې ده

راغلـــه د خـــوږ زړونـــو قتلـــول کـــوی
پټـــه د خـــورو زلفـــو پـــه زغـــرې ده

رېبـی هـر ارمـان مـې د جفـا پـه لـور
دا د زړۀ په دشت کښې مې لوګرې ده

زۀ **سائر** تـرې ځمـه پـه بـل لـور ځکـه
ګرانـه مـې ميشـته پـه چنـداخورې* ده

* زمونږ د کلی کبل پخوانے نوم

زۀ دې پوهـه پـه مطلـب د بېلتـون نـۀ يـم
زمـــا مـــۀ لټـــوه زړۀ د لټـــون نـــۀ يـــم

زولنې مې په مرۍ کښې ستا پرتې دی
خو بهادر* غوندې پانسی په رنګون نۀ يم

زۀ پـه تـا بانـدې مئـين د زمـانې يـم
اشـنا شـوے دې د نـن او پـرون نـۀ يـم

کـه تـا آه کـړو زۀ لګـړه نـۀ شـوم دلبـره
بيـا بـه چرې ستـا د مينـې مجنـون نۀ يم

که مې وينې د منصور غوندې حق نۀ وې
بيـا سائر به غېـر نسلی يم پښتـون نۀ يم

* بهادر شاه ظفر د هندوستان باچا

تېرې د ژوندون شوې مرحلې په څو څو چنده کښې
ماتې د ارمان مې لاس او پښې شوے په هر بنده کښې

Pukhto.Net

چرې مې نصيب نۀ شو کاسو کښې د الفت شراب
تــل مــې مــرى وچــه د فــراق کاســيره تنــده کښــې

زۀ د خپــل ارمــان دانــې راغونــډې پــه بــاڼو کړمــه
تــه ئــې دل کــوې کــه پــه غصــه ســتم ژرنــده کښــې

را بــه شــي بــې ننګــه خــو د غــرب بــه درتــه نــه يمــه
کېــږدى مــا ســائر چــې د لحــد پــه تــوره کنــده کښــې

چې خپل خیال ستا د یادونو سره مل کړم
د حسرت شمع د زړهٔ په کور کښې بل کړم

ستا د حسن تندرین اسمان د وجې
د فکرونو چوپالګې به څنګه چل کړم

بې وفا که لږ زما په لورې راغلې
په چاودلو شونډو پښې به درله ښکل کړم

لږ په وړاندې چې تېرېږم پر مې سوزي
قدم څنګه در اوچت ستا په درشل کړم

د دنیا نهٔ په ارمان نولس کښې تلی
کېدے نهٔ شی چې د مینې دنیا شل کړم

بیا به هم قیمت باقي لرې ساﺋره
که هر لفظ دې په سرو زرو بدل کړم

ارمانونـه مـې سـکاره کـه د سـتم بتهـې دې سـرۀ کـه*
د نظـر غشـی دې راشـه پـه تـودۀ بانـدې تیـرۀ کـه

تصـور زمـا د ذهـن کـړه مدهوشـه پـه هـوش نـۀ شـی
تـۀ خوبونـه رانـه واخلـه تهول ژوندون مـې شـوګیره کـه

سـتا د دره سـتمګره پـه هـیڅ حـال بـه قـلار نـۀ شـم
خبـر خـور د بـد نـامۍ کـه پـه وطـن کښـې ناغـاره کـه

ځان په در کښې به ستا مړ کړم یاره تۀ به مې قاتل شې
تۀ په سرو وینو کښې راشه خپل نازبین لاسونه سره که

یـا خو لږ شـان شـراب راکه تـه د مینې په کاسو کښې
یـا پـه خپلـه مېکـده کښـې مـې کچـه غونـدې ببـره کـه

یـاره کـور تـه مې را نۀ غلې مګر ګور تـه بـه مې راشې
د سائر د زړۀ ارمـان د ے تـه پـه مړینـې ئـې پـوره کـه

* کړه

لکــــه الـــوزې مــــالوچ چـــې د نانـــداف د ډبلونـــه
داسـې خـر لـوګي مـې خېـڅې د زړګـي د اسـوېلو نـه

سـتورې يـو بـل تـه ګـوتې زمـا سـتا حالونـه وائــي
مـــا تـــه کلـــه کلـــه ګـــورې زۀ پـــوهېږم د ښـــکالو نـــه
لږ د حسـن زکـات ورکـړه برېښـنا لابـه ئې سـېوا شـي
د ارمـان مېـرې بـه څـه خـورې سـتا د حسـن د غلـو نـه
ستا د عشق په سمندر کښې اخر څه رنګې بـه تېـر شـم
تـــا پاخـــه لهـــرې يـــوړل مـــې د مينـــې د جـــالو نـــه
هسې نۀ چې ستم ګره د خپـل ځـان سـره دې ډوب کـړې
درياب‌ونـــه بـــه جـــوړېږې مـــې د اوښـــکو د بېلـــو* نـــه
يـوه ورځ بـه داسـې راشـي تېـر بـه سـتا د حسـن وار شـي
دا غـــرور بـــه تـــر څـــو څـــاڅي ســـتا د حســـن د بلـــو نـــه
د ساتر ارمـان بـه درشـي اے بـې پتـه دا مـې واوره
چـې هـډوکي راوباسـې پـه خـر سـينډ ئـې د نـالو نـه

* بېله : د لوئے سيند نه جدا شوې وړه ناله

څومره د فراق شپه دې اشنا راته اوږدۀ شوله
نوره هم تبې د هجر ښۀ راته توده شوله

ګورم د وفا تخم د دهر په بازار کښې زۀ
ستا دغم باړو کښې زما دغه کرونده شوله

اوښکې زما ګوره د چینو په شان غولې وهې
ستا په انتظار جولې زما توله لوانده شوله

ښاد به شم اباد به شم خوشحاله به یو ځل شمه
مړه که چرې ستا د حسن دغه درنده شوله

زۀ د غم توتې به په سورو د زړۀ پیوند کړمه
ستا د زلفو تار باندې که یو وارې ګینده شوله

اوکړو ډېر دمونه پرې زما د خیال پاړو مګر
ستا مینه مې زهر په رګونو چلینده شوله

تا ئې د تهمت اخاړې څومره په خپل در اوکړې
مینه د سائر پرې لکه ستورے ځلینده شوله

کله چې په تاؤ د ځيګر پوهه شوم
ستا د محبت په اثر پوهه شوم

مات مې د ارمان شولو ګڼ وډ بتان
ځکه په بېوپار د اذر پوهه شوم

څنګ چې نا علاجه شو ناسور شولو
هله زۀ په رنځ د پرهر شوم

وليدله ما پکښې زخمي سينه
اوس دې په حملو د نظر پوهه شوم

نن چې مرور اشنا پخلا شولو
زۀ په خوشحالو د اختر پوهه شوم

تا ساڼر رخصت کړم نامنظور درخواست
ستا په بې انصافه دفتر پوهه شوم

زمـــا د بـــيخ ختلـــى ارمـــان وتـــى جنـــازه ده
اوس مـۀ راځـه بې ننګـه ستا پـه مـا څـه مـلازه ده

ګيلــه بــه اخــر څنګــه زۀ د غېــرو خلقــو وكــړم
چـې خپـل يـار مـې كرلـى پـه كوڅـه كښـې كـاريزه ده

بانـه د ستركو تـا چـې پـه يـو نـيم سـلاٸى تـور كـړل
تـا خامخـا مــې مـرګ لـه جـوړه كـړى انـدازه ده

زمـــا د زړګـــى وينــه وړه پــه لپــو انكارنشـــته
تـا څۀ لـه نـن وهلى پـه سـرو شـونډو كښـې غـازه ده

دا چـې زۀ ورتـه پـه چغـو اسـوېلو كښـې ځـان وهمـه
سـتا د مـړ لـوظ د سـر نـه پورتـه كـړى مـې خـازه ده

ما **ساٸر** كه څو د اوښكو بارانونه پرې را مـات كـړل
سـتا د مينـې پـه سـكروټو كښـې لاهغسـې پـازه ده

ما چې د اوښکو قافله ګرېوان ته پرېښوده
د کلي عامه لار مې هم جانان ته پرېښوده

بيا مې د کور د چوپالګي په نړېدلي دړه
نن ستا د ياد شمع سيلۍ طوفان ته پرېښوده

ورته مې ورکړه د لړوکي سوکړۍ په لاس کښې
د چمن زېله مې قاتل باغوان ته پرېښوده

ما پسې ډېرې الوېې اوکړې خو والوتله
تا د خپل حسن لولکۍ اسمان ته پرېښوده

سوره د خيال په کيجاوه د ارمانونو ډولۍ
د مهار غوټه مې هم ستا ساربان ته پرېښوده

سائره ژاړي به مئين چې ستا غزل لتوي
تا چې نيمګړې افسانه جهان ته پرېښوده

چې اوسیږی رانه لرې څۀ مزه د ژوندانه ده
د ژوندون هره لمحه مې اوریدونکی افسانه ده

تپوسونه چې کوې ته ځائې په ځائې مې د اغیارو
دا جولۍ د انتظار مې اوس د اوښکو پېمانه ده

د باڼو غشی دې هسې سرګېر مۀ وله جانانه
ما زړۀ ډال ورته نیولے دا ئې روغه نشانه ده

د تهمت ګوته مې هسې تا په سپینه لمن ایښی
تا لوټ کړی په اغیارو د خپل حسن خزانه ده

دروغژنه تا په توقو مې پرهر نه ناسور جوړ کړو
تا د زړۀ ټکره مې وړی د دوا په بهانه ده

ستا د زلفو وریځ راغله د غرور اسمان دې برېښی
دا ښکالو چې غلی غلی د وصال د بارانه ده

څه عجبه نظارې دی نغمه زنه ترې صحرا شوه
ما **سائر** ته غرېدونکی ستا د یادو ترانه ده

ستا د مخ لمبه پرې په سحر کېښې تېره شوی ده
څرېکه د دردونو مې په سر کېښې تېره شوی ده

زۀ يم چې نهر تورهر کوشه کېښې درته پروت يم
ما باندې روژه مياشت د اختر کېښې تېره شوی ده

ځوکه مې تندے خپل د صحرا نه بچ ساتلے دے
شپه مې ستا د يادو په منډر کېښې تېره شوی ده

بيا دې د غومبکو مچو ګګ راپارېدونکے دے
ستا د خيال مچۍ مې په نظر کېښې تېره شوی ده

زۀ **ساﺋر** ستی شوم کومه کومه دې رايادہ کړم
هره يو لحظه مې په مجمر کېښې تېره شوی ده

د خپله لاسه لپې مالګې په پرهر اړوم
زۀ په خطا چې هم ستا لوری ته نظر اړوم

لختې د اوښکو مې راسم دی په ګرېوان د پاسه
ستا د غم ژرندې ته ولې په هر ګودر اړوم

د زلفو تار کښې دې پېڅمه ملغلرې اوښکې
دغه تسپې ستا د يادونو په ممبر اړوم

ستا د سپين مخ د تور خالګی د ځليدو د پاره
په احترام ستا د رېښمينو زلفو غر اړوم

د دې نه نور د لېونتوب حدونه څۀ کېدے شی
په وچه ډاګه خاورې شګې په خپل سر اړوم

تۀ به د غېرو سره ناست په حنا سره لاسونه
زۀ سائر څنګه به شپې ورځې د اختر اړوم

ښښتنه مینه مې دې خدائے دومره بې پته نۀ کړی
ستا په کوځه دې ما هیڅ کله ملامته نۀ کړی

زۀ ستا د یاد سیزنۍ کښې ترم خپل ورکے ارمان
چرته د خیال په زانګوتۍ کښې راته لته نۀ کړی

زۀ دې په سر تیتې سورې ورم خو تر حده پورې
هسې نۀ څوک راپورې نوم د بې غیرته نۀ کړی

د انتظار په توره شپه کښې دې شمارم خالونه
خدائے دې هیڅ کله ستا د حسن ډیوه تته نۀ کړی

زما **سائر** ربباره یار ته مې په سوال اووایه
چې ښښتنې سترګې اغیار ته زما ښکته نۀ کړی

اومې کړه دعا ارمان وژلی ته
خدائے د یاره راشه زما کلی ته

درسته شپه شوګیر مې د ازل برخه
ګورم په اسمان ستوری ختلی ته

یاره هر طبیب تړې نا علاجه شو
لږ مرهم مې راکړه زړۀ داغلی ته

نه راځي واپس په منت چرته بیا
څو که جولۍ نیسم دوران تلی ته

یو پکښې زرغون د وفا ګل نۀ شو
ناست یم د امېد پټی کرلی ته

سترګې دې لواندې قدرې هم نۀ کړلې
ژاړی لوئے واړه هجر زپلی ته

زۀ سائر چې لاړم دعقبی په لور
مۀ مې وهه ځان د خاورو څلی ته

Pukhto.Net

نـهٔ د ورځـې مــې قــرار شــته هـم د شــپې يمــه پــه غــم کښــې
ســـتا د يـــاد ډيـــوې بلومـــه زهٔ همـــېش د زړهٔ حـــرم کښـــې

تلوسـې دی د هـر خـوا نـه پـه سـوچ فکـر کښـې راګېـر يـم
مـا د زړهٔ چمبـه غلبېـل کـړه صـرف پـه يـادو د صـنم کښـې

د ســـتم کـــانې وريـــږی د ږلـــۍ ويـــره مـــې هـــم ده
مـا د خيـال ښـاپېرۍ پرېښـې نن سـر تـورې سـتا پـه چـم کښـې

ارمـــانې د ليـــدو ډېـــر يـــم د ليـــدلو تـــوان مـــې نشـــته
الـول چـې مـې پېښـې کېـږی سـتا درتلـو تـه پـه قـدم کښـې

زهٔ ساٸر کـه پـه اخـلاص هـم شـيش محـل د مينـې جـوړ کـړم
تا ئې بيخ ته ښکر نېغ کړے ته ئې کلک په خپـل سـتم کښـې

کډه ستا د چم نه د خفګانه سره اخلمه
درنه دې رخصت د ډېر ارمانه سره اخلمه

زۀ د للمې ګل يم د هجران سوکړې وهلے يم
ساه به ستا د وصل د بارانه سره اخلمه

يو بل ته ګيلې د رب د پاره نورې مۀ کوه
پېټے ستا د غم د خپله توانه سره اخلمه

بيا مې نصيب خپل دے که مې ګټه که تاوان وکړو
مينه د اشنا د هر يو زيانه سره اخلمه

لار کښې د منزل نا اميدی مې پښه نيولې کړی
مړه مړه قدمونه د کاروانه سره اخلمه

هر چمن کښې زۀ ساثر ګلونه د وفا ګورم
لاس کښې کشوئ چې د باغوانه سره اخلمه

ستا د هجران لمبه چې زړهٔ کښې مې دننه شوله
دومره مې ښه د محبت قیصه غمژنه شوله

ستا د دیدن په هره لاره کښې خلل پیدا شو
زهٔ چې پرې تلم نو هغه لاره هم ازغنه شوله

چې د ایلم نه پلوشې د نور په تلو کښې شولې
ستا د راتلو وعده هم ما ته دروغژنه شوله

د لوپټې پیسکې دې هم د سر ترونې نهٔ وو
د هر ارمان جنازهٔ ښخه بې کفنه شوله

په ژوند مې رانهٔ غلې په مرګ مې چرته پاتې نهٔ شې
زما سائر چې کله خاورو ته سپارنه شوله

Pukhto.Net

زۀ مال و سر درته جانانه په تلی کښې ږدمه
بانه د سترګو درته لاړ کښې هرکلی کښې ږدمه

ما ته دا خپل قسمت معلوم دے د ازله سپېره
څه له لاسونه خپل په لاسود پالی کښې ږدمه

زۀ په ګردش د موسمونو پروا څۀ اوساتم
مراوی ګلونه په زلفانو په سپرلی کښې ږدمه

تۀ په جولو کانړی راواخله په تلوارې راځه
د زړۀ ټکړې دې د ستم بټ کمالی کښې ږدمه

زما سائر که کله ګل شو د امېد ګلونه
رامبېل چامبېل به په سونډی د خپل لالی کښې ږدمه

Pukhto.Net

تا ته به تش هسې کاته د خپل نظر ښکاري
ما ته دې څوکې د باڼو لکه خنجر ښکاري

چې ستا د يادو نه په کوم ساعت غافل شی کله
زما د زړۀ ماڼۍ ويرانې شی کنډر ښکاري

Pukhto.Net

د تصور کالبوت چې کېږدم په حرم د زړۀ کښې
ما ته خپل ځان د لېونو نه هم بدتر ښکاري

رمبې د ظلم مې په ورښ د زړۀ پاتې نۀ کړے
ناسور به جوړ شی نازک حال مې د پرهر ښکاري

وچې نينې ورسره نه چيچی هيڅ څوک محفل کښې
خو ما سائر ته په خوبانو کښې افسر ښکاري

شاته شاته ګورمه او ځمه زۀ
درنه بې نوا چې دې راتلمه زۀ

ډېر کرل رودل مې زړۀ کښې وکړلو
ستا په نا کړدو حېرانېدمه زۀ

ستا د عشق لارې ګګلېچنې دي
هسې په اټکل پرې قدم ږدمه زۀ

څو که پکښې ما ډغرې اوخوړې
بيا دې په وعدو خطا کېدمه زۀ

ستا د هر رقيب پرې خوايخي کېده
کله چې ساٸر په دار ختمه زۀ

www.pukhto.net

ما دې په خپل سر باندې د مینې تاج ساتلے دے
تا راسره تل لکه پردو رواج ساتلے دے

ما دې د غصې تندر ته هر وختې خندلی دی
تا په کوت تندی باندې عجیب مزاج ساتلے دے

زۀ خو ستا د عشق په جوارۀ چوته کښېناستم
تا چرته انیز زما په مینه باج ساتلے دے

تېتې سورې ما کله د غېرو خلقو وړی دی
ستا په وجه ما باندې اغیارو راج ساتلے دے

تا چې د **ساثر** زړۀ په هر انچ کښې زخمی کړے دے
تا ورله د کوم طبیب کامل علاج ساتلے دے

# زما ســــــوات

رادرومې سیلانی ورته لیدو ته کال په کال
ځلیږی زما سوات په پښتو نخوا لکه هلال

سپین غرد ملاکنډ او د ایلم واورینه څوکه
کالام ملم جبه زما د سوات د زنې خال
منم چې ښائستونه پکښې موج وهي ګډیږی
په سیند زمونږ د سوات کښې په سپرلی او پشکال
تنګوته په مزه مزه ئې واورې راخوئیږی
سرې شوی څانګو تې وی سم ګنګورې کوتی لال
سحر د نمر په څیره بلبلان سندرې وائی
چاپیره په هر بڼ کښې ئې جوړ کړے وی ګوخمال
د امن سره مینه کوم هر ځائې مې امن خوښ دے
خورې لپې نیولې مې الله ته دی په سوال

د سیندچپې شمارم سائر په بله طمع ناست یم
اشنا که پکښې راشی چرې ستا د ځُلې کنګال

## سنګرې

زما دې چرته هم سنګرې او لوړ بام نۀ ساتي
زۀ به پرې څۀ کوم چې لحاظ زما د قام نۀ ساتي

زۀ ورته لار نيسمه نه ئې پرېږدم نۀ دې راځي
زما د ورور په وژلو ما له دې انعام نۀ ساتي

چې د مغرب په چاپلوسۍ د افغان وينې پلورې
چې وی افغان نو بيا به توره په نيام نۀ ساتي

د انا الحق په ځائې چې ګوته ږدی او ګام ترې اړئ
هغه مُلا دې بيا په خُله کښې الف لام نۀ ساتي

حېران په دې يم په څه وجه پښتانه ختموی
زما د قام مشر دې دغه راز ګمنام نۀ ساتي

هغه پښتون سائره ځان ته دې پښتون نۀ وائي
په زړۀ دننه چې لمبې د انتقام نۀ ساتي

Pukhto.Net

# ملالي سترګي

کله فکرونه چې مې ستا سترګو ملا لو ته ځی
د اسوېلو ګرمی مې ستا د ستم پالو ته ځی

د ماښامی انتظار نور وکړم که نه جانانه
مچی ګګونو ته روانې مرغۍ جالو ته ځی

د زړۀ په وینو د چمن چې اوبه خور کړمه
دغه ګلونه د اشنا څنګ سنبالو ته ځی

ما د ښاريانو په خوئ تل ورته ګېلې کولې
په خوئ خصلت کښې ښاپېرۍ اوس کلی والو ته ځی

ستا مسلمان حسن دې خوئ د کافرانو نۀ کړی
سائر به ولې د هندوانو در مسالو ته ځی

# وران کلے

اوس هغه زړه راښکونکي منظرونه پکښې ورک شو
يو دوند په کلي خور دے راحتونه پکښې ورک شو

د کلي نه مې خدايه ميدان جوړ شو د منا
تمبو تمبو ښکارېږي کورونه پکښې ورک شو
دا وطن به زمونږ بيا ګل ګلزار شي ان شاءالله
ګېر چاپېر که د بارودو سخا بينو نه پکښې ورک شو
نن د کلي هر اړخ مود ګولو نه غلبيل پروت دے
ګودرې زمونږ سوي چنارونه پکښې ورک شو
حجرې مو دي ويرانې چې يو نخښه د پښتو وه
کندر کندر ښکارېږي محفلونه پکښې ورک شو
ماښام د کلي بڼ کښې چې به شور وو د بلبلو
هغو ترې کډې اوکړې اوازونه پکښې ورک شو
جانانه دا دې حسن دے که تل د سمندر دے
زما سره د ډېرو خلقو زړونه پکښې ورک شو

پوښتنه ما سائر نه کړې ديوال بلې د کلي
ګونګۍ مې شوله ژبه جوابونه پکښې ورک شو

نور د صبر توان مې نشته رسېدلې انتها ته
په سلګو مې زړهٔ خوټکېږي کار وئيلې ئې ژړا ته

په يوه عشوه چې زړهٔ د تنه يوسي
څوک به ګوري د هغې اشنا خندا ته

د هجران لمبې مې داسې په زړهٔ بل دي
اور به واخلي که ئې تپ ورسي چا ته

په دهوکه دهوکه اول ئې منتشر کړي
شرمخان د کنډک هله کوي ما ته

ستا ديدن په تصور زما پوره دے
توان مې نهٔ شي مخامخ چې ګورم تا ته

د ارمان طوطيان مې ټول په پنجرو بند وي
ستا د خيال پيشوګان ګرځي خوا ؤ شا ته

د ديدن توکل دې ګران نهٔ دے محبوبې
خو سائر دې سر ټيټې کؤم حيا ته

# د سپرلي علامې

شړشم ګل شو سپرلی جوړې علامې کړې
بلبلانو بیا په ونو کښې نارې کړې

اوس به واورې د سرونو رخصت اخلې
تنګو هم په ژړاګانو سترګې سرې کړې

هر ذی روح اوس د مستۍ میدان ته دانګی
شپونکی هم په لوړو غرونو کښې ټپې کړې

د سپرلي په زیری پاس اسمان ګړیږی
وریځ جوړې په اسمان کښې پاغوندې کړې

د اسمان په خوشحالۍ اوښکې بهیږی
په سحر ئې د هر ګل پاڼې لوندې کړې

ستا د غم پېټی مې بیا په زړهٔ انبار کړل
ما سائر چې په قدم قدم دمې کړې

# غلبیل زړهٔ

چې تهٔ پرې ښهٔ ښکارې پوښتنه د بیمار مهٔ کوه
خو تهٔ د دې خبرې هیچا ته اظهار مهٔ کوه

څه له انچونو کښې پرې نخښې لګے غشی نالې
د زړګی کور مې تمامی واخله پتهوار مهٔ کوه

زهٔ به د سره خفه نهٔ ووم که وئیلے دې وے
نهٔ درځم نهٔ درځم بې وجې انتظار مهٔ کوه

تهٔ چې د لرې اشاره اوکړې سلام مې واخله
اشنا راغاره شه خویونه د بازار مهٔ کوه

په زړهٔ غلبیل یم د زخمونو سوری څهٔ له شمارې
هسې د ګوتو په بندونو ځان له شمار مهٔ کوه

ساٸره ډیر ئې د کمرونه راویشتې خو پوهه نهٔ شوې
ما درته نهٔ وې چې په ښکلو اعتبار مهٔ کوه

# د لوهار چړې

چې جنګ له ځی څوک خامخا د جنګ سامان تېره کئ*
څوک نشترونه او څوک غشی څوک چاکوان تېره کئ

چې په ادا کښې بانه ښکته اننګو ته کوز کړی
لکه لوهار چې د چړو څوکې په سوان تېره کئ

د تور خالګی او سپین رخسار څوکېداری د پاره
هغه زرګر باندې پرې د خپل پېزوان تېره کئ

هغې تیارو کښې خپلو زلفو ته کمڅی کولې
ما وئیل چې څه کړې خو څوک توری د ایران تېره کئ

سائره خبرې څه ښکالو حېران ئې پاتې کړمه
که منډی ښکرې په اخور پورې غوائیان تېره کئ

* کئ: کوی

چرته په سلو کښې خوا خوږی څو کسان پاتی دی
نور خو اکثر اوس په لستوڼی کښې ماران پاتی دی

جارو پرې مه وهئ لږ وار اوکړئ چې وران ئې نهٔ کړئ
لږ ئې ښکلوم د قدم خاپې د جانان پاتی دی

یار له ورځم چې دا باقی ګرېوان مې هم اوشلوی
ریخې یو څو مې لازوړندې په ګرېوان پاتی دی

د سپرلی ګل دې په غرور باندې غړی نهٔ وهی
تُندې سیلۍ پرې خطرناکې د خزان پاتی دی

زما ئې هر ارمان په هټکو او سلګو وژلې
دغسې ډېرې جنازې مې د ارمان پاتی دی

چې د راتلو تولې وعدې ئې دروغژنې کړلې
څه ملازې په ما سائر د هغه ګران پاتی دی

اوس د زلفو شوندو اننګو وختونه تلی دی
زلفې د اشنا په ترهګرې کښې شوکېدلی دی

ښکته پورته درومی خالی روح ورپکښې پاتې دے
واړه اندامونه ئې بارودو سوزولی دی

اوس هغه جونګړې هم بېخی د پېژندو نۀ دی
هغه دیوالونه هم د ختېو نړېدلی دی

هغه کشمالی نشته چې ستا د لاسو نخښه وه
هغه ګملې اوس هم د کودرو نړېدلی دی

هغه اشنا نشته چې د بام په سر تېه به شو
ګوره درب ولاړ ئې د ارمان په هغه ځلی دی

چرته بې ګناه چې د افغان وینې توئ شوی دی
هلته د **سائر** پښتنو سترګو هم ژړلی دی

Pukhto.Net

# شوګیره

شپه مې شوګیره شی ځکه ورځ مې ناقراره وی
زړۀ مې په ګوګل کښې نۀ ځائیږی بې اختیاره وی

ستا سینګار خانه کښې چې یو دم ائینه ما ته شوه
دا به شرمېدلی خامخا ستا د رخساره وی

ستا د زلفو تار چې بیا مومم نو وخت به تلے وی
وتی به زخمونه مې د خوږ زړګی د شماره وی

Pukhto.Net

لګی به ګردونه هم په سر به ئې دوړې الوځی
دا د ارمانونو قافله به تل په لاره وی

تۀ به قدمونه په ناز اخلې را روان به ئې
چاؤدے به زړګے زما دا ستا د انتظاره وی

بیا به په سوکونو سترګې مږی او په ویر به ئې
ګرانه جنازۀ د سائر تا ته به ایساره وی

دغــه دونــد چــې مــې خــتلے د اهونــو تــر اســمان د ے
دا چې ستا سالو ئې لوند کړو دا د اوښکو مې باران د ے

پــه ظــاهره چــې روغ ښــکارم ســتا د مینــې کرامــت د ے
پــه ګوګــل د ننــه اوســووم پــه لمبــو کښــې مــې ګــزران د ے

یقــین وائــی چــې بــه راشــی ګمــان وائــی چــې ده ګرانــه
د راتلــو پــه وعــده جنــګ مــې د یقــین او د ګمــان د ے

په کلونو کښې یو ځل ئې راته وئیل چې حال دې څنګ د ے
دا لحــاظ پــه مــا راپــورې تــر قیامتــه د جانــان د ے

چــې پــه کومــه لاره ځمــه کبــرژن راتــه لارېرېــږدی
چــې دا مــا ســائر تــه ولــې یــار د خپلــه ځانــه ګــران د ے

## روغ وجود اختر دے

زما زړۀ غلبیل غلبیل زما ګرېوان په اوښکو تر دے
دا وئیل به زما مورې بچې ! روغ وجود اختر دے

نن چې یاد ې کړم خبر ئې زۀ د هغه ابۍ جانې
ترمې اوښکې مې یک دم شی د سرو سترګو رارواني
زما زړۀ زخمی زخمی زما سورے سورے ځیګر دے
دا وئیل به زما مورې بچې ! روغ وجود اختر دے

هغه څوک چې رنځوران هسپتالونو کښې پراته دی
د زخمونو تاب ئې نشته خواران ټول وراته پراته دی
په حال د دوئ د زړونو هغه یو الله خبر دے
دا وئیل به زما موري بچې ! روغ وجود اختر دے

یو زنده به پاتې نهٔ شی وار په واری ټول روان دی
هر فقیر دے که مالداره د وطن که بادشاهان دی
د دولت په نشه مست چې د خپل ځانه نا خبر دے
دا وئیل به زما موري بچې ! روغ وجود اختر دے

دغه پورې چې ښکاریږی د دهٔ هم لوره ځوانی وه
د بلبلو پرې چغار وواوئې څو ورځو خانې وه
څو اوس هغه چنار نشته نړیدلے ټول ګودر دے
دا وئیل به زما موري بچې ! روغ وجود اختر دے

فکر وکړمه ساغر چې زهٔ هم تلونکے د دنیا یم
اخر دې فانی دنیا کښې به تر کومې پورې پا یم
ربه کوچ مې د دنیا نهٔ بس یو وارې ستا په در دے
دا وئیل به زما موري بچې ! روغ وجود اختر دے

دریغ مې وَ نهٔ کړو که مې یاره مال و جان اخلې
نور تهٔ زما د مینې څومره امتحان اخلې

ستاسو د چم په بلو زانګې مې ریخې د ګرېوان
راشه بې ننګه که بدل مې د ګرېوان اخلې

پرېږده چې مړ شمه ناسور ښهٔ دے دا نهٔ روغېږی
تهٔ مې د زړهٔ زخم له ولې کورکمان اخلې

د سر څادر مې نذرانه ستا په راتلو منلے
په ژوند رانهٔ غلې جنازهٔ مې د ارمان اخلې

ما اوبه خور ئې مدام کړے دے په وینو د زړهٔ
اے بې انصافه ته مزې د ګلستان اخلې

چې ستا د زنې خال مې وران کړو څڅېدو د اوښکو
زهٔ سائر منمه که هر څومره تاوان اخلې

چې ستا غم زما د زړۀ په کور میهمان دے
که هر څومره ستمګر دے په ما ګران دے

زما تن وجود ئې تول ذرې ذرې کړل
ستا بې پته حسن هغسې لاځوان دے

تۀ زما په پاکه مینه کښې شک مۀ کړه
دا متل دے چې ګمان د ایمان زیان دے

رب د پاره دې نقاب د مخه لرکړه
ستا لیدل مې په ژوندون کښې غټ ارمان دے

ستا د ظلم پلک ته ما ماشوم زړګے خپل
تا سور کړے ما پاس ایښے په سندان دے

زۀ سائر د لات منات طمع دار نۀ یم
ما سپارلے هر مشکل په پاک سبحان دے

ستا که د کاواک نظر د ظلم نه بهر شمه
زهٔ به د دنیا د طبیبانولاس په سر شمه

تا که فرعونی جادو زما په زړهٔ څوکړے دے
زهٔ به د موسی امسا په لاس درپسې در شمه

تا په امتحان که ایلم غر ماته په ګوته کړو
زهٔ به د فرهاد غوندې لګیا په هغه غر شمه

تا که شیرینۍ غوندې قدم زما په لور کړلو
زهٔ به هم ادم د ملنګۍ جامه کښې درشمه

تا که په ریښتینی د راتلو وعده پوره کړله
بیا به زهٔ سائر په عاشقانو کښې افسر شمه

د مخ کتاب دې د جفا نخښې څرګندې کړلې
هومره مې نورې حوصلې ورته بلندې کړلې

زما خو وينه وه سېزلې ستا ستم په لمبو
تا مې هډوکو دل کېدو ته چالو ژرندې کړلې

ستا د ديدن ښکالو راتله د تورو غرونو فنا
ازغنه لار که پيچ وخم وه خو ما منډې کړلې

سود به دې اوشي په ما نوم چې د فرهاد پورې شي
که مې شروع ستا د فراق دېوال ته کندې کړلې

زۀ سائر کوم طرف ته لاړ شم انتظار دې وکړم
تا چې د خپلو ديدنونو لارې بندې کړلې

شونډې ستا که ګل غوټۍ سره سمون خوري
خو مرګې به ضرور ستا سره ګډون خوري

څۀ که ځانله ئې جنت په دنيا جوړ کړو
خامخا به سر پشانتې د قارون خوري

په ظاهر که دې هر غم ته ايلم غر يم
وينې غوښې مې په زړۀ کښې اندرون خوري

که ثانی د سلطنت ئې چرته نشته
خو بهادر د مرګی زهر په رنګون خوري

ستا د کبر غرور دانشه به زير شي
څو ساثر به زړۀ د فکر په زنګون خوري

چې رایادې مې ستا سترګې خندنۍ شي
ستا یادونه مې سبب د پرېشانۍ شي

په خوارږه نظر نور مه راته راګوره
زۀ لا څه تولـه دنیا به لېونۍ شي

ستا ورې ورې خبرې په سرو شونډو
دا مستۍ به اخر ختمې د ځوانۍ شي

ستا د لوری سره بخری راوریـږی
ژوندون تېر به زما څنګ په اسانۍ شي

سرومال به تالـه کومه ستا په عشق کښې
ستا تهمت که مې د غاړې زولنۍ شي

ډاډګېرنه چې دا ستا د لوری راشي
په محفل کښې مې خبرې مړنۍ شي

په سائر به تورې خاورې اوپره بار وی
څه که بیا دې پرې سرې سترګې نم جنۍ شي

د مینــــې ماښــــامونه مــــازیګر راتــــه یــــادیږي
مــا څښــل چــې پــه جامونــه هــر ســحر راتــه یــادیږي

محراب کښې ستا د وروځو چې به زۀ سر په سجده شوم
قســم دے هغــه وخــت هغــه منــدر راتــه یــادیږي

مـا ستا پـه انتظـار چې بـه امیل د اوښکو جوړ کړو
نـــن هـــم هغـــه دردونـــه د ځیګـــر راتـــه یــادیږي

مــا ډیــر څــه فریبونــه خپــل نــادان زړګــی لــه ورکــړل
خــو ســر پــه اســویلو شــی چــې دلبــر راتــه یــادیږي

ساثر د چـا پـه هجـر کښـې د غـم پـه چکـۍ دل شـوم
حملـــې د چـــا د ســـترګو د نظـــر راتـــه یــادیږي

آغـــاز د مینـــې اوشـــو انتهـــا پـــورې بـــه ځـــم
ازغنـــه کـــه شـــی لار خـــو د اشـــنا پـــورې بـــه ځـــم

کمځی که ستا د زلفو دی هر ځومره اوږدې شوی
والله چـــې پـــه هنـــر دغـــې بـــلا پـــورې بـــه ځـــم

بیـا خوبنـه د زړۀ سـتا ده کـه مـې وژنـې او کـه نـه
حـــلال مهـــے د مینـــې ضـــرور ســـتا پـــورې بـــه ځـــم

هـر څـو کـه د منـزل پـه کـږو لارو کښـې مـې تـګ وی
منـــزل تـــه ســـتا د مینـــې د عقبـــا پـــورې بـــه ځـــم

ســـائر تـــه کـــه هـــر څـــومره د جفـــا خارونـــه کـــړې
مجنـــون یـــم ســـتا د مینـــې د بېـــدیا پـــورې بـــه ځـــم

# یادونه

ستا د یادونو باران تل وریږی
ځکه مې غشی په ګوګل وریږی

زۀ چې دې سترګو ته کتلے نۀ شم
یاره ګولۍ تر مې د اجل وریږی

نور کله هیڅ نۀ وو نن ستا د مخه
دا ښکلاګانې په محفل وریږی

یو ستا کوڅه کښې د وصال زباتنې
بل د اغیارو نه کنځل وریږی

ساعر که دېرې پتۀمه سترګې
اوښکې هوښیارې شوې په چل وریږی

## حقیقت

څوک په ښائست کښې د سپوږمۍ شی او څوک ګل ته رسی
خو تل ژوندون نۀ وی د چا مدام اجل ته رسی

دا زندګی یو امتحان دے خو مونږ پوهه نه یو
په اطاعت د یو الله بنده منزل ته رسی

تۀ چې د دې فانی دنیا په صفت خوله پورې کړې
مۀ کړه ناصحه ډېر دردونه مې ګوګل ته رسی

سائره څوک چې د غرور په نشه پورته لاړ شی
نشه د کبر ئې شی زېر د زمکې تل ته رسی

ستا د يادونو ولولې راغلې
د زړه په کور مې زلزلې راغلې

په ژړا سر د دواړو سترګو نه مې
څيرې ګرېوان ته قافلې راغلې

اشنا ته هم زه به دې هم يادوم
خير که تر مېنځه فاصلې راغلې

دا خو د ډېرې بې وسۍ نه اشنا
په ګونګه ژبه مې ګيلې راغلې

سائره ستا په سمندر د مينې
د چا د غم ډکې جالې راغلې

دلګیـــر زړۀ تـــه ر تهنـــه پـــه لېمـــو اشـــنا کـــوی
قســـم د ے کـــه خـــاطر د تـــورو شـــپو اشـــنا کـــوی

چې اوښکې مې لړی لړی ګرېوان ته راڅڅېږی
خنـــدا زمـــا پـــه اوښـــکو څڅېـــدو اشـــنا کـــوی

یـادا بـه فطرتـی خـوئے وی همیش دې مهرویـانو
یـــا ظلـــم بـــه د چـــا پـــه اشـــارو اشـــنا کـــوی

زۀ ژارمـــه پـــه چغـــو هغـــه خانـــدی بـــې نیـــازه
ګُمـــان کـــه څـــه پـــه مـــا د لېونـــو اشـــنا کـــوی

پـه مـا ساثر بـه بـار وی تـورې خـاورې څلے څلے
بیـا څـه کـه مـې ژړا پـه شـنو خـازو اشـنا کـوی

که مې د اوښکو چپو واخستې غورشل به دې کړي
قدم به وا نۀ اخلې اشنا په غبرګو شل به د ې کړي

جامې د وخت دې په اخور د حسن شخوند مات کړي
ستا د ځوانۍ تاتې چې جوئي اخر دل به دې کړي

ما نن خپل خيال ته اووې څه ښغ ئې په شونډو لګه
ځانګه چې شونډې رېږي نو اخر ښکل به دې کړي

پـــه دلاســـه دلاســـه ډېـــر راتـــه يـــارانو وئيـــل
خوا له ئې مۀ ورځه لګړه به شي کجل به دې کړي

ديدن له ځې په نيم کښو د ور کښې مۀ ورګوره
سائره کړي به دې بدنام د ديدن غل به دې کړي

# پښتنو ته نصیحت

تـار بـه شـئ تـار تـار بـه شـئ ريخـې د ګرېوانـه بـه شـئ
بغــض حســد پريــږدئ پښــتنو دانــه وانــه بــه شــئ

دا يو غټ کمے د ے پښې شا پښې د خپـل ورور وهـئ
ډوب بـه شـئ تبـاه بـه شـئ ستومان پـه ژوندانـه بـه شـئ

تــل ذليــل ســوچونه د خپــل ورور د بربــادۍ کــوئ
خـراب بـه شـئ تـراب بـه شـئ بـدنام پـه زمانـه بـه شـئ

نــور قامونــه اوګــورئ آســمان تــه بــره وختــل
خپـل نيتونـه سـم کـړئ اے نـا پوهـو نـو درانـه بـه شـئ

يــو بــل ســره دا د پرګنــو دشــمنۍ ختمــې کــړئ
دا نصــيحت واورئ يقينــا چــې پښــتانه بــه شــئ

تــهٔ چــې دې خپــل قاتــل نظــر تــه ائینــه  ونیســې
زمــا کتــاب بــه خپلــو ســترګو تــه هلــه  ونیســې

کــه د خیــالونو مچــۍ تــاؤ کــړې د لفظونــو زمــا
پکښــې ضــرور بــه تــهٔ د مینــې ګبینــه  ونیســې

کــړه د نیــازبینو لاســو لپــې مــې نزدې ســترګو تــه
امیــد لــرم چــې پکښــې ځانلــه نګینــه  ونیســې

پهٔ ما به زړهٔ  وسېزې ځان ته رانزدې به مې کړې
خو یاره څنګ به د سلګو ډکه سینه  ونیسې

زمــا ســـائر بـــه پرهرونـــه د ګنـــډلو نـــهٔ وی
څــهٔ کــه دې بیــا د زلفــو مــزې پــه رینــه  ونیســې

دا د قسمت په دائرو به د بخت ستوری راشي
زما جونګړی ته چې ستا د محل سیوری راشي

اول ئې ښکل کړمه په شونډو بیا ئې وګورمه
ګوته چیتې چې مې د ګران اشنا د لوری راشي

بانه د سترګو اننګو ته چې سجده کړی کله
چل کړي غشي مې په زړه پورې راپورې راشي

وهم مې اخلي او ویرېږمه حېران اودرېږم
ستا د خیال بت د زړګي دشت ته زما ګوری راشي

زۀ سائر غر به ورته هیڅ کله کوڵې نۀ شم
که لونګینه مې مزار ته په سر توری راشي

نن چې ستورو يو تر بله زما ستا قيصه کوله
زما اوښکو روڼ تالاب کښې سپوږمۍ ځان ته ګډوله

دا موسم د پسرلی وو چې ستا خيال راسره مل وو
په نرۍ نرۍ وريځ کښې به آسمان ستر ګه وهله

د موسى د لاس امسا وه زما خيال چرته راوړی
اژدها دې ما د زلفو څنګ به نۀ قابو کوله

يو نشه وه يو سرور وو چې غرقاب پکښې روان ووم
ستا د ياد يو سلسله وه چې په خپله مخه تلله

زۀ ساځر پيدا د خاورو اخر خاورو له به لاړ شم
خو لولکه د خيالونو مې آسمان ته والوتله

# د روژې ماښام

چا په خُرما چا په سابو چا په غنم ماته کړه
چا بختور په ښکلې غېږ کښې د صنم ماته کړه

چا د صحرا په لوړو پولو او په شاړو مېرو
چا خوش نصيبو په مکه کښې په زم زم ماته کړه

چا مسافرو د وطن نه په ميلونو لرې
په ژړاګانو کښې د سرو سترګو په نم ماته کړه

چا د دهشت او تريګنو په پښتو نخوا سيمه کښې
د ويرې ترهې نه په ډزو کښې د بم ماته کړه

چا د غربت او بې وسۍ نه د ډوډو په ټکړو
چا د مستو ډکو حجرو کښې په چيلم ماته کړه

**ساڼر** په فکر د قدرت کښې دومره لرې لاړم
په دې سودا مې څوکه د قلم ماته کړه

ستا چې تپوس نۀ کړی جانان به درنه نۀ خبریږی
ګیله ترې مه کړه هغه ګران به درنه نۀ خبریږی

ورته بکرې ټکوه چې په تورتم کښې راځی
په دغه لیت کښې رقیبان به درنه نۀ خبریږی

زما رازونو باندې غته تیګه کیږده اشنا
بې د خالقه یو انسان به درنه نۀ خبریږی

اے زما زړۀ ژړا کوه خو سترګې مۀ خبروه
چې اوښکې نۀ څاڅی ګریوان به درنه نۀ خبریږی

تۀ چې ګلونه شوکوې په نیمه شپه کښې ورځه
ګل چینه یاره نو باغوان به درنه نۀ خبریږی

ساﺋره نور دجانان یاد په سیاهۍ مۀ لیکه
قلم د اوښکو ډکوه نو قلمدان به درنه نۀ خبریږی

# مرثیه د معصوم خورځې شاه زین

تـۀ خـو زمـا پـه انس جـان پسـې جنـت تـه لاړې
خـــو ډېــر غمـــژن دې مـــور او پـــلار پرېښـــودو
زمــــــونږه زړونــــــه شـــــو د عمـــــر زخمــــــی
تـــول دې ســـوری ســـوری پرهـــار پرېښـــودو

رحمــان علـی تـره دې ډېـر ژاړی ســلګو نېـولے
صـــبریږی نـۀ دیـدن دې غـــواړی ســلګو نېـولے
د زړۀ بلبـــل دې زمـــونږ ولـــې پـــه چغـــار پرېښـــودو
زمــــــونږه زړونــــــه شـــــو د عمـــــر زخمــــــی
تـــول دې ســـوری ســـوری پرهـــار پرېښـــودو

د شــهادت نــه دې قربــان شــم مــا کــتلے نـهٔ شــو
دا اعتـــزاز* منظـــر* مـــې دواړه ليـــدلے نـــهٔ شـــو
تا چې دا خپـل ګلالـی روښه تـار پـه تـار پرېښـودو
زمـــــونږه زړونـــــه شـــــو د عمـــــر زخمـــــی
ټـــول دې ســـوری ســـوری پرهـــار پرېښـــودو

ستا نه شوکت تره چې خبر شی څه حال به ئې وی
پردی وطن کښې به اوتر شی څه حال به ئې وی
غـولی منډؤ دې خپلـو لوبـو نـه وزګـار پرېښـودو
زمـــــونږه زړونـــــه شـــــو د عمـــــر زخمـــــی
ټـــول دې ســـوری ســـوری پرهـــار پرېښـــودو

ستا نه بغېر به زما خور څنګ زما کورته راځی
ښائسـته شـاه زينـه بې لتـا خـو بـه سـور اور تـه راځی
تـا خـالی غېـږه ورلـه ولـې سـور انګـار پرېښـودو
زمـــــونږه زړونـــــه شـــــو د عمـــــر زخمـــــی
ټـــول دې ســـوری ســـوری پرهـــار پرېښـــودو

اے خورییه په ما ګرانه لېونے دې کړمه
صبر زۀ غواړم د مولانه لېونے دې کړمه
دا خپل ماما چې دې تنها د ژوند په لار پرېښودو
زمونږه زړونه شو د عمر زخمي
تول دې سوري پرهار پرېښودو

ما ته خو دومره پته نۀ وه چې خزان به راځي
ستا د وړو وړو خبرو غټ ارمان به راځي
چې بې موسمه دې د ژوند تازه بهار پرېښودو
زمونږه زړونه شو د عمر زخمي
تول دې سوري پرهار پرېښودو

Pukhto.Net

دا دې څه اوکړو ناګهان چې مقبرې ته لاړې
چې دقیامته به ئې هلته داسې پنجرې ته لاړې
خالي دې ولې ما **ساثر** ته لاله زار پرېښودو
زمونږه زړونه شو د عمر زخمي
تول دې سوري پرهار پرېښودو

څوک وی به د مالیار او څوک د ګل نه متاثره
زۀ یم د پښتو ژبې د اوربل نه متاثره

رحمان خوشحال خو دواړه ملغلرې د دریاب دی
د فکر د دریاب یمه د تل نه متاثره

هغه لوړه شمله مې اجمل خټک یادیږی
په دې وجه بس زۀ یم د اجمل نه متاثره

د شعر فلسفه خو د غنی بابا دریاب دے
په موج کښې د ادب ئې د غورشل نه متاثره

د سوات روغانے هم خو د لفظونو جادوګر دے
خدمت کښې د پښتو ئې د هر پل نه متاثره

حمزه سره غزل کښې هيچا ښکر وهلے نۀ دے
خو اوس د اباسين يم د غزل نه متاثره

منم په پښتو نخوا کښې نازک خياله شاعران دی
د هر يو د انداز يم د بيل بيل نه متاثره

عزيز هم د لفظونو د پښتو لعلونه پېئی
تانه کښې د سيماب يم د محفل نه متاثره

فکرونه د پښتون چې ئې سينه کښې په غورزنګ دی
په شعر اولس وال يم د سائل نه متاثره

دا دومره مينه وال شاعران زړۀ کښې چې مې اوسی
په دې وجه اکثر يم د ځان خپل نه متاثره

زمونږ فخر افغان ئې په ننګياله خاوره پروت دے
نو زۀ سائر ډېر زيات يم د کابل نه متاثره

Pukhto.Net پښتو

وژنی ورور په ورور دا ئې یو ننګ راله جوړ کړے دے
غوږ کښې د مغرب نظام یو شرنګ راله جوړ کړے دے

څـی چـې پـه شـریکه د دې خلقـو مـخ نیـوے اوکـړو
چا چې په خپل کور دننه جنګ راله جوړ کړے دے

راشئ چې کاسې ئې کڼ کپر کړو چې دوئ پوهه شی
چا چې په کاسو شربت د بنګ راله جوړ کړے دے

چـا مـو ضـمیرونه پـه ډالـرو نشـه کـړی دی
چا مو د زړګی په رباب ټنګ راله جوړ کړے دے

مـونږه پښـتانه یـو پـګ شـړی زمـونږه ننبـه ده
دغـه بې دستورو څادر لنګ راله جوړ کړے دے

خپله خاوره خپل اختیار ، مونږ خپلې ته نه پریږدی
دا لاکوم قانون دے چې فرنګ راله جوړ کړے دے

نور ساٸر ګونګی غوندې زهٔ چپ پاتې کېدے نهٔ شم
دې خاموشۍ زړهٔ کښې یو تور زنګ راله جوړ کړے دے

کشتی د امیدونو په غولی کښې ګرځوم
بارونه د تهمت د ناخوالی کښې ګرځوم

ایله ایله پرې ښکاری د جانان د ګوتو چاپی
ریخې د ګریوانه چې په جولی کښې ګرځوم

که اوکړی ناګهانه چرته ستا د راتلو زیرے
کارغان په دې غرض ستا په بلی کښې ګرځوم

د مینې جادوګر منتر مې منې او کنه
ماران د زلفو ستا چې په شپیلی کښې ګرځوم

زۀ ویم چې دا به ګل شی ستا په زلفو کښې به ئې کېږدم
مچی د تصور چې په کلی کښې ګرځوم

ساثر د مهار غوټه مې نیولی د جانانه
دا خیال په کېجاوه دې په ډولی کښې ګرځوم

## انس ته

په ما درانه غمونه دي پنډان شو
زما شهید بچیه ته خو جنت ته لاړې
هلته ملګری دي طوطیان شو

زۀ دي اخته کړم په غمونو
ډېر په سختو او تکلیفونو
په زړۀ سورے کړم ستا یادونو
په ژړا سر دي واړه روڼه ماشومان شو

په ژړا سر دي بابا جان دے
په اوښکو لوند ئې ټول ګرېوان دے
خپل اوپردي دي په لړزان دے
هم لېوني درپسې ترونه ماماګان شو

هم دي ټول ترونه تنداریانې
قلار ئې نه شوې ژړاګانې
په چغو سر وي ستا ترورېانې
زما دي مل واړه غمونه د وجدان شو

مـــور لېـــونی دې شـــوه اوتـــره
پرتـــه د ځانـــه نـــا خبـــره
وينـــې ئـــې څـــاڅی د ځيګـــره
ژوند سره مل ئې ستا غمونه د هجران شو

د هـــزارې تـــرور دې دســـره
ســـتا شـــهادت نـــه نـــا خبـــره
کلـــه چـــې پـــوئ شـــوه پـــه خبـــره
کاواکو چغو کښې ببخی ئې زړګې وران شو

تـــه چرتـــه لاړې انـــس جانـــه
زمـــا [illegible] د زړۀ ارمانـــه
شـــوه د زړګـــی دنيـــا مـــې ورانـــه
په مخ د اوښکو سېلابونه مې روان شو
زمـا شـهيد بچيـه تـه خو جنت تـه لاړې
هلتـــه ملګـــری دې طوطيـــان شـــو

ستا ناکړدو نۀ به کتاب جوړ کړم
جدا جدا به هر يو باب جوړ کړم
په څه چل ول به ئې در ورسووم
ستا په مخ اوښکې به سېلاب جوړ کړم

وی به د هرې جفا ذکر پکښې
تا به اختہ کړمہ په فکر پکښې
تاله به رنځ ستا د شباب جوړ کړم
تا ته به خپلې ناکړدۍ يادې شی

درته زما به بې وسۍ يادې شی
تا له د غم به دا رباب جوړ کړم

بيا به ارمان کوې خفگان به کوې
راپسې ډېر جانان جانان به کوې
دا پاتې ژوند به دې عذاب جوړ کړم

ما [redacted] زړۀ کښې فېصله کړې ده
دا مې کامله حوصله کړې ده
ستا کانړی زړۀ نه به سراب جوړ کړم

ښکالو ئې واورېده اشنا چې ئې اختر له راځی
هغه ملا له اوس اختر ته پېشمنی شماروی

د چا د شنو سترګو نظر نه د نظر د ویرې
مسته په خپلو نرمو ګوتو سپېلنی شماروی

سترګې ئې بیا مرغۍ مرغۍ کړې خدایه خیر راپېښ کړې
قطرې د اوښکو مې که څاڅکی بارانی شماروی

څنګه خطا دې زۀ د ګوتو به بند وشمارمه
د آسمان ستوری خو بې خوده لېونی شماروی

مه کوه مه جانانه نور ظلم ستم مه کوه
ساﺋر لګیا دے لا زخمونه پخوانی شماروی

اخــر زۀ نــور څــه وکړمــه چــې لار درتــه پرېږدمــه
کوڅــه کوڅــه د کلــی او بــازار درتــه پرېږدمــه

د خيال په کيجاوه مې د ارمان ډولۍ سوره کړه
پــه رورو قــدم اخلــه چــې مهــار درتــه پرېږدمــه

د تيکــی د ســتم نــه دې تيــره چــړه بهــر کــړه
کــه يم پــه هتيکــو هتيکــو زړۀ پرهــار درتــه پرېږدمــه

ورښونه مې د اوښکو د خپل حسن باغ ته سم کړه
چينــې د خپلــو اوښــکو پــه نيــوار درتــه پرېږدمــه

**ساثر** د نــور زۀ تېښــتې لــه راوســتې يــم جانانــه
اخــر اخــر کــه وَنــه شــوه دا ښــار درتــه پرېږدمــه

ما تـه خپلـه برخـه خـواره د ازلـه ښـکارېده
ستا د مينې پـه خړ سيند کښـې راتـه چلـه ښـکارېده

چې دې ډېره موده پس پـه کلـی راغلمـه جانانـه
سـتا د چـم هـره کوڅـه راتـه بدلـه ښـکارېده

تـور خـالګې دې پـه وريـځ د زلفـو پـټ وو
بيـا دې هـم د حسـن شـمع راتـه بلـه ښـکارېده

تـا چـې تلـه د خپـل حسـن پـه خلوص زمـا درنـه کـړه
پـه پارسـنګ کښـې راتـه سـتا د نظـر تلـه ښـکارېده

د ساتر د وينو رنګ ئې ښائسته حسن کښې ګډوډ وو
دا ځکـه مـې ليلـى خائسـته د ګلـه ښـکارېده

څه فکرونو یم اغستې ستا د یاد په ګواره کښې
یا که بلې لمبې ښکارې د بېلتون په تناره کښې

لږ د مینې نظر اُوکړه ته زما سوی زړګی ته
فرق نه ښکاری جانانه زما زړۀ او په سکاره کښې

د خیالونو خارونکي مې مړې نه کړې
د نظر ښکاریان دې بیا ناست دې باره کښې

ته د قهر نه خولې زۀ د ژړا نه به پرې اوښکې
څڅوو به هر یو ګل ته په مېره کښې

د زورزېر او غورځندې کمې پرې نشته
که هر څو لټون کومه ستا د مخ په سیپاره کښې

عجیبه غونډې دنیا ده عجیبه پکښې رنګونه
زۀ **ساثر** چې فکر وکړم د قدرت په دائره کښې

Pukhto.Net
پښتو

زړۀ تـه مـې سـتا يـاد چـې پـه رو رو کـړه راوړی ده
سـترګو تــه مــې اوښــکو فــوارو کــړه راوړی ده

سـتا دغــم وينــو مــې سـينه ټولـه ډډه کـړی ده
ځکــه ورتــه ســتا د خيــال خــارو کــړه راوړی ده

ستا ښائست په کلی رنګينئ راخوري کړی دی
يــا د کــوه قــاف نــه ښــاپيرو کــړه راوړی ده

بيــا دې د غصــې لــړم لکــئ تــه خيــژولے دے
ســتا تښتنئ ژبــې تــه خېــرو کــړه راوړی ده

نــن چــې بلــبلان پـرې پـه خـورو څـانګونو الـوځی
چمــن تــه ئــې د ګــل پــه اشــارو کــړه راوړی ده

خـدائے خبـر چـې چـا د **ساٸر** مينـه د نظـره کـړه
کلــی تــه ئــې بيــا چرتــه ســپيرو کــړه راوړی ده

پیسکې د تور شال سکروټو شونډو کښې لمبه کړه
ټکور د خپل زخمي زخمي ځيګر ترې جوړوم

د اوښکو اباسين به په جولۍ کښې تربېله کړم
خېبره ستا رښا له بجلۍ ګر ترې جوړوم
اوس نرۍ خبره مې هم زړه زغملې نه شي
وړه ګيله دې اورمه لوئې غر ترې جوړوم
داغونه د خپل زړه به ستا خالونو سره تل کړم
سوکۍ له ستا د حسن يو لښکر ترې جوړوم
د حسن په دکان کښې دې تختې د وصال ګورم
په چل هنر لګيا يم د زړه ور ترې جوړوم
کالبوت ستا د يادونو مې په کور د زړه کښې کېښود
ته ګوره ستا د يادو يو مندر ترې جوړوم

راځه بانه دې خپل په اسويلو کښې زما سره کړه
سائر به لوهار جوړ شمه خنجر ترې جوړوم

تـا کـه هـر ارمـان مـې د خائسـت پـه لمبـو اوسـېزو
مـا سـکاره ارمـان سـتا د رانجـو د پـاره پـاتې کـړو

يـاره چـې پـه امـن پـرې دا سـتا سنې سمسـورې شـي
دا د سـر څـادر دې د پښتـو د پـاره پـاتې کـړو

نور ئې په رنګين ډوب سلا لا کښې ځان پټ کړے وو
پـاس د تنـدې خـال ئـې د جلـوو د پـاره پـاتې کـړو

يـاره مئينـانو دې کاسـې تـولې نسـکورې کـړې
ګـوټ د جـام پـه ويښ ئـې د توبـو د پـاره پـاتې کـړو

شېخ په غلا غولتې چې ستا د زلفو مزے غلے کړو
ګـرم نـه دے چـې دا ئـې تسـپو د پـاره پـاتې کـړو

منمـه **سـائر** مجنـون چـې داؤ د عشـق کښـې مړ کـړو
ځـان دغـه يـو عبـرت ئـې د جلـوؤ د پـاره پـاتې کـړو

Pukhto.Net

## قطعه

دا ایټم بم ډېر پخوانې ایجاد دے
که ورته لږ شانې څه غور اوکړې

د ابابیل په خله د نسکو دانه
د هاتی ملا له بس پوره وه کنه

چرته مې بیائي ستا خوږو یادونو واخستمه
سیلۍ سیلۍ بوږ بوږقو ګردونو واخستمه

زما د قام اوده جانانه لږ تپوس مې اوکړه
ما درنه وړی چرته پردو قامونو واخستمه

زما په برخه شوګیرې دی انتظار کښې یمه
سترګې مې پټې دی اشنا خوبونو واخستمه

ناست یم تنها د لېونو غوندې په ټق خاندمه
د تصور په غېږ کښې ستا نازونو واخستمه

په انتظار زما **ساثر** د سترګو تور اوبه شول
ته چرته لاړلې اشنا شکونو واخستمه

نن ستا د یاد جونګړه ما د زړه په ښار جوړه کړه
په انځر خال مې دې پټې د زړه پرهار جوړه کړه

هغه د اجر ثواب ځان ځانله موقع وی کنه
په درنګ ساعت چې جولاګی جاله په غار جوړه کړه
د حق وینا په څُله منګول څوک ایخودلې نه شی
ځکه غوغا خو د منصور وینې په دار جوړه کړه
چې د فرعون لښکر ئې غرق کړلو د نیل په تل کښې
هغې امسا چې د دریاب په مینځ کښې لار جوړه کړه
ولې به زړه زما د چا حسن ته وکړیږی
تا مې د زړه د کوره کرښه د حصار جوړه کړه
ته په بانه بانه زما د زړه ګودر ته راتلې
د خیال کارغه مې ځکه جاله په چینار جوړ ه کړه

څنګ د ساثر د زړه بلبل به پسې نه چغیږی
تا چې په زلفو کښې وږمه بیا د بهار جوړه کړه

# اتل افغان ته د هغه د واده په موقع ډالۍ

۲۴ نومبر ۲۰۱۳ع

غلام حق سائر

ډېـــره زر مـــبــاوی شـــی اتلـــه د ګلونـــو ســـهره
څکـــه مـــا تـــا لـــه د راوړی د شـــعرونو ســـهره

شه مستقبل دې پرې رونبانه تل ژوند ے دې اوسې
د مـــور و پـــلار پـــه خـــدمتو ګرنـــد ے دې اوســـې
د خوئیندو رونړو په دعا کښې روڼ تند ے دې اوسې
شـــه مبـــارک دې د تـــول ژونـــد د ارمـــانونو ســـهره
څکـــه مـــا تـــا لـــه د راوړی د شـــعرونو ســـهره

داسې خوشحال شې خوشحالۍ چې درنه وشرمېږی
داسې یو ګل شې چې کلۍ هم درنه وشرمېږی
د کـــور دیـــوال او چـــې بلـــۍ هـــم درنـــه وشـــرمېږی
لکه ښکارېږی چې سپرلی کښې د باغونو سهره
څکـــه مـــا تـــا لـــه ده راوړی د شـــعرونو ســـهره

لکه شفق کښې چې په غره د بوډۍ تال جوړ شي
داسې دې ستا د امېدونو هر يو خيال جوړ شي
يا چې د دنګو ابشارونو نه شيمال جوړ شي
په تا خوره دې شي د هر قسمه رنګونو سهره
ځکه ما تا له ده راوړي د شعرونو سهره

خدائے د آباد ساته ادب ته کلکه ملا وتړه
ډېر که دې کړي خو د دې نه هم سپوا وتړه
په کور د زړهٔ کښې د ملګرو التجا وتړه
تا ته په سر کړه ستا ملګرو د سوالونو سهره
که ما تا له ده راوړي د شعرونو سهره

لکه سحر چې په مشرق څيره د نمر پورته شي
چمن کښې ګلو نه د پرخې لوند څادر پورته شي
هغه يو دوند چې د چپو د سمندر پورته شي
مدام په سر دې شه د داسې منظرونو سهره
ځکه ما تا له ده راوړي د شعرونو سهره

هغه سهرې که چا اخیستی په زړګونو باندې
دا قیمتی نه دی هیڅ کله په شعرونو باندې
دا شګوګل دی چې پړقیږی پاس په غرونو باندې
ورسره تول که ته زما صرف د لفظونو سهره
څکه ما تا له ده راوړی د شعرونو سهره

شه د ژوندون نوی سفر دې بختور اتله
په نصیبه دې خوشحالی شه د اختر اتله
شه د ژوندون تیارې دې تولې منور اتله
ستا دې په ژوند کښې په سر نه شی دغمونو سهره
څکه ما تا له ده راوړی د شعرونو سهره

زما سائر دا دعاګانې سلامونه واخله
مبارکۍ د خپل واده دې په زړګونو واخله
ته د ډالۍ په توګه دا یو څو شعرونه واخله
دروړلے نه شمه د تشو کاغذونو سهره
څکه ما تا له د راوړی د شعرونو سهره

## خپل ماما اروابناد سلطنت خان تنها ته
## د اختر په ورځ

زه به خنګ مبارکي د اختر واخلم
چې شهيد بچې مې مخکښې مخکښې کيږي
خوږ اشنا چرته زما ګيله من نه شي
د زړه سر انس په زړه نې راوريږي

Pukhto.Net

## د سلطنت خان تنها ځواب

چې خفه نه شې دا د خدائے نه مقرر وګڼه
دا امتحان خاص د طرفه د اکبر وګڼه

څانګه قلم شی نو مېوه پس د هغې ته نيسی
دا قلم څانګه په مثال لال او ګوهر وګڼه

نادانه هلته خو جایداد دولت په کار نه راځی
دا دې دولت دا دې جایداد دا سیم و زر وګڼه

دا غم یواځې په تا نه دے مونږ شریک یو پکښې
ما هم په دې کښې د خپل ځان سره رهبر وګڼه

لکه د غر غوندې زړګے ورته محکم کړه اشنا
باد و باران ، سیلۍ طوفان پرې یو منظر وګڼه

دنیا بس ځائے د جدایۍ دے د هر چا پاتې ده
خوشحالۍ تولې دې په ورځې د محشر وګڼه

لکه غلام به وی ولاړ درته [redacted] سائره !
دا خپل ماما دې په مثال لکه نوکر وګڼه

Pukhto.Net پښتو